

د افغانستان اسلامي امارت
د عامې روغتيا وزارت

# روغتيا او ژوند

گڼه
۳ دریم پړاو – دریمه گڼه، جمادي الاول ۱۴۴۶ ه ق

# روغتيا او ژوند

مسئول مدير: گلزاده سنگر

کتنپلاوی: د ناروغيو د مخنيوي او کنټرول لوی رياست، معالجوي طب لوی رياست، د وياندويي، اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

ډيزاينران: ضياءالرحمن صديقي، منصور شريفي

همکاران: عمران رسولي، اکرام الله کريمي، نصير احمد حيدري

د اړيکې شمېره: ۰۲۰-۲۳۰۱۳۷۴

بريښناليک info.access@moph.gov.af

ويبپاڼه: www.moph.gov.af

پته: د عامې روغتيا وزارت ځلورلارې، وزير محمد اکبر خان سړک، کابل - افغانستان

په دې مجله کې د ليکل شويو مطالبو مسئوليت د ليکوالانو پر غاړه دی، د مجلې له مقالو او مطالبو څخه ګټه اخيستنه د سرچينې په يادولو سره جواز لري.

جمادي الاول ۱۴۴۶ هـ ق/ لیندی ۱۴۰۳ هـ ش

| ګڼه | سر لیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۱ |
| ۲ | د عامې روغتیا وزیر ژوند لیک | ۲ |
| ۳ | د هېواد ۳۱۸ ولسوالیو کې د نویو عمومي روغتونونو د رغنیزو چارو پیل | ۳ |
| ۴ | د کونړ ولایت عامې روغتیا ریاست فعالیتونه | ۴ |
| ۵ | پوهاند غضنفر انستیتیوټ | ٦ |
| ٦ | سکبیز ناروغي | ۱۰ |
| ۷ | جوزجان ولایت کې د لسګونو روغتیایي مرکزونو جوړېدل | ۱۱ |
| ۸ | فواید و عوارض دواهای ACE- Inhibitors | ۱۲ |
| ۹ | د روغتیا وزارت فعالیتونه او لاسته راوړنې | ۱۳ |
| ۱۰ | ماشومانو کې د ادرارو انتانات | ۱۹ |
| ۱۱ | داخلي سفرونه | ۲۱ |
| ۱۲ | مهمې ناستې او لیدنې | ۲٦ |
| ۱۳ | خبرونه او راپورونه | ۲۸ |
| ۱۴ | بهرني سفرونه | ۳۰ |
| ۱۵ | د ولسوالیو په کچه د عمومي روغتونونو جوړول | ۳۵ |
| ۱٦ | انتانات حاد تنفسی یا Acute Respiratory Infections | ۴۴ |

## سرلیکنه

# د ځان بسیاینې په لور هڅې!

**نحمده و نصلي على رسوله الكريم اما بعد فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم**

روغتیایي خدماتو ته د خلکو د لاس رسي او غوره خدمتونو وړاندې کولو په موخه د عامې روغتیا وزارت د وړاندیز او عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړي حکم په اساس د افغانستان اسلامي امارت له داخلي بودیجې څخه د هېواد لرې پرتو ولسوالیو کې د ۳۱۸ عمومي روغتونونو د جوړولو لومړنۍ چارې پیل شوي، چې په جوړېدو سره به یې د لرې پرتو سیمو اوسېدونکو روغتیایي ستونزې تر ډېره حل شي.

دغه راز به د یادو روغتونونو په جوړېدو سره په ولایتي، سیمه ییزو او مرکزي روغتونونو کې د ناروغانو مراجعه راکمه او معیاري خدمتونو وړاندې کېدو ته به لا زیاته زمینه برابره شي.

په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو جوړېدل ولس ته د اسلامي امارت او په ځانګړې توګه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله ځانګړې پاملرنه په ډاګه کوي.

اسلامي امارت، چې هڅه کوي د هېواد وګړو ته په هره برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي، روغتیایي برخه یې هم له پامه نه ده غورځولې او ورځ تر بلې د خدماتو د ښه کېدو لپاره مزل وهي.د اسلامي امارت تر ډېره هڅه داده، چې روغتیایي برخه کې ځان بسیا او په یاده برخه کې ځان د نورو هېوادونو له مرستو او تکیې خلاص کړي.

دا روغتونونه چې د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې جوړېږي، په عصري وسایلو د سمبالېدو سربېره به په کار پوه او مسلکي روغتیایي پرسونل او د اړتیا وړ دېرش بسترونه ولري.

په دې روغتونونو کې به د مور او ماشوم، داخله، جراحي، جلدي او نورو برخو کې روغتیایي خدمتونه وړاندې کېږي، چې موخه یې روغتیایي خدمتونو ته د خلکو لاس رسي او د ځان بسیاینې لور ته رسېدل دي.

## د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي ژوند ليک:



د عامې روغتيا وزير، ښاغلی مولوي نور جلال جلالي د مرحوم گل جان شينواري زوی او د مرحوم حبيب جان شينواري لمسی چې په (۱۳۴۸) لمريز کال په يوه متدينه او جهاد پروره کورنۍ کې د کونړ ولايت شيگل ولسوالۍ په لاحسين کلي کې زيږېدلی دی. د ښاغلي جلالي ټول ژوند د جهاد په سپيڅلې لار او د خدای (ج) د دين په خدمت کې تېر شوی دی.

الحاج نور جلال جلالي په افغانستان د سره پوځ له تيري راهيسې د اشغالگرو پر وړاندې مبارزې ته راوتلی او د لوېديځ او ناټو تر ماتې يې د دين او هېواد دفاع کړې ده. لومړنۍ زده کړې يې د خپل کلي په جومات او د قران کريم حفظ او تر لوېې دورې پورې اسلامي تعليمات يې د هجرت په دوران کې داسې مهال ترسره کړي، چې کله به له مجاهدينو سره په سنگر کې و او کله به د الله(ج) د دين د زده کړې په موخه د اسلامي تعليماتو په حلقو کې ناست و. د اسلامي امارت په را څرگندېدلو سره د ياد ډگر په بېلابېلو جبهو کې يې په فراه او نيمروز ولايتونو کې د جهاد سپيڅلې مبارزه مخته وړله، چې د يادو ولايتونو له فتحې وروسته يې د فراه د امنيت آمر په توگه خپل رسمي مسؤليت پيل کړ. په (۱۳۷٦) لمريز کال د اسلامي امارت له لوري د کابل له فتحې وروسته د مشرتابه د باور له مخې د کورنيو چارو وزارت اداري مرستيال وټاکل شو.

دغه راز يې د خدمت ياد مزل د اسلامي امارت د لومړۍ دورې تر پای پورې د پکتيکا د والي په توگه وغځاوه. په افغانستان د امريکا د تيري پيل پر مهال او د اسلامي امارت د بيا راپورته کېدو پر وخت تر (۲۰۰۳) زيږديز کال پورې د اسلامي امارت له لوري د کونړ د والي او د اسلامي امارت د نظامي کميسيون د غړي په توگه خپل مسؤليت ترسره کړی دی. په ۲۰۰۳ زيږديز کال اشغالگرو امريکايانو ونيو، چې تر(۲۰۰۸) ز کال پورې يې د خپل ژوند پنځه کاله د بگرام په کرغېړن زندان کې د وطن ازادۍ ته نذرانه کړل. له زندانه تر ازادېدو وروسته يې له (۲۰۰۹)ز کال څخه د اسلامي امارت د بري تر ورځې پورې د جنوبي حلقې د مرکزي کميسيون د مشر په توگه د مسؤليت پيټی په اوږو کړی و. همداراز د ازادۍ لارې د ياد مزل په اوږدو کې د يو کال لپاره د ننگرهار د نظامي والي په توگه او د دوو کلونو لپاره د پکتيا د نظامي والي په توگه ټاکل شوی و. دغه راز د اسلامي امارت د جهاد او مبارزې په وروستيو کلونو کې د مرکزي نظامي کميسيون د مرستيال همداراز د اقتصادي کميسيون د سرپرست او په قطر کې د دوحې د مذاکراتو د غړي او د دوحې د دفتر د غړي په توگه لوی مسؤليتونه ورسپارل شوي وو. د اسلامي امارت د بري او دويمې دورې په راتگ سره د اسلامي امارت د عالي مقام د (۱) لومړۍ گڼې او (۱۴۴۳/۲/۱۵ ) نېټې فرمان پر بنسټ د کورنيو چارو وزارت اداري مرستيال وټاکل شو؛ چې تر څنگ يې د کورنيو چارو وزارت د کفيل په توگه خپله مقدسه دنده مخته وړې. په کورنيو چارو وزارت کې د اداري مرستيال او کفيل په توگه د دوه نيم کلن بريالي ماموريت راوروسته د عاليقدرامیرالمؤمنين شيخ القرآن و الحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله د (۳۱) گڼې او (۱۴۴۵/۱۱/۲۳) نېټې فرمان پر بنسټ د عامې روغتيا وزارت د سرپرست وزير په توگه وټاکل شو او د خدمت لړۍ يې لا هم دوام لري.

# د هېواد ۳۱۸ ولسواليو کې د عمومي روغتونونو رغنيزې چارې پيل شوې!




د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي د يو خبري کنفرانس په ترڅ کې د نږدې ۷ ميلیارده افغانيو په ارزښت د هېواد ۳۱۸ ولسواليو کې د نويو عمومي روغتونونو د رغنيزو چارو پرانيسته ترسره کړه.

دغه خبري کنفرانس چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې ترسره شو، په کې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، مالي او اداري چارو مرستيال ښاغلي ملا بخت الرحمن شرافت، روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، روغتيايي پراختيا او پاليسۍ مرستيال ښاغلي ډاکټر محمد حسن غياثي، مرکزي رييسانو او د رسنيو استازو ګډون کړی و.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په ۳۱۸ ولسواليو کې د عمومي روغتونو جوړول د وياړ ځاي وباله او ويې ويل: ( د دې روغتونونو په جوړېدو سره به هېواد کې روغتيايي سيستم پياوړي او په لومړنيو او ثانوي روغتيايي خدمتونو کې به ژور اصلاحات او پراختيا رامنځته شي).

ښاغلي وزير زياته کړه، د هېواد په ۳۱۸ ولسواليو کې د ولسوالۍ د کچې عمومي روغتونونو لپاره د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) له لوري بوديجه منظوره شوې، قانوني او لومړني مراحل يې ترسره شوي او د روغتونونو د ودانيزو چارو تدارکاتي پروسه يې عملاً پيل شوه، چې په بشپړېدو سره به يې ټول هېواد کې لس زره بسترونه زيات او په پايله کې به يې د ولسواليو په کچه يو پياوړي روغتيايي سيستم رامنځته شي.

بل لور د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي ملا بخت الرحمن شرافت د دې روغتونونو د تدارکاتي چارو د شفافيت ډاډ څرګند او زياته يې کړه، چې ياد روغتونونه به د ولسونو لپاره خورا ګټور ثابت شي.

# د کونړ ولایت عامې روغتیا ریاست پیژندنه او فعالیتونه

د کونړ ولایت عامې روغتیا ریاست د سردار محمد داود خان په وخت تقریباً (۱۳۵۴) کې د امریت په کچه رامنځته شوی او د روسانو په مقابل کې د مجاهدینو د بري وروسته، د ریاست کچې ته لوړ شوی دی، له دې نیټې راپدېخوا د کونړ ولسونو ته د یاد ریاست تر چتر لاندې روغتیایي خدمتونه وړاندې کېږي.

د کونړ ولایت د عامې روغتیا امریت د مرکز اسعد اباد ښار د ولایتي روغتون په څنګ کې په ۱۳۵۴ کال کې رامنځته او په دغه تعمیر کې تر ۱۳۹۶ کال پورې د کونړ ولس ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو یواځینۍ مرجع وه.

د ۱۳۹۶ کال په مالي بودجه کې غیري مشروط بودجه منظور شوه چې په دغه بودجه کې د کونړ ولایت د عامې روغتیا ریاست لپاره د کمپ فیاض په سیمه کې چې د مرکز اړوند د منده کول په سیمه کې قرار لري تعمیر جوړ شو او په دغه ساحه کې فعلاً شتون لري.

## د کونړ ولایت د عامې روغتیا ریاست تر چتر لاندې روغتیایي مرکزونه!

| شماره | روغتیایي سهولتونه | تعداد |
|---|---|---|
| ۱ | روغتیایي پوستېHP | ۳۵۷ |
| ۲ | روغتیایي فرعي مرکزونه (SHC) | ۵۰ |
| ۳ | اساسي روغتیایي مرکزونه (BHC) | ۲۰ |
| ۴ | مختلږي اساسي روغتیایي مرکزونه (BHC+) | ۲ |
| ۵ | جامع روغتیایي مرکزونه (CHC) | ۸ |
| ٦ | بشپړ جامع روغتیایي مرکزونه (CHC+) | ۱ |
| ۷ | ولسوالیو روغتون DH | ۲ |
| ۸ | د زندان کلینک | ۱ |
| ۹ | ولایتي روغتون (PH) | ۱ |
| ۱۰ | د معتادینو ۳۰ بستریز روغتون | ۱ |
| ۱۱ | هیلت کمپونه | ٦ |
| ۱۲ | ګرځنده روغتیایي ټیمونه (MHT) | ۷ |
| مجموعه | | ۱۰۲ بابه روغتیایی مرکزونه او ۳۵۷ روستیي پوستې |



## د عامې روغتیا ریاست تر چتر لاندې د ولایتي روغتون ترخنګ په روغتیایي مرکزونو کې
## د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کیدونکو خدماتو لیست!

## Inpatient Services بستریز روغتیایي خدمات

| | |
|---|---|
| General Surgery Services | عمومي جراحي خدمات |
| General internal medicine | عمومي داخله خدمات |
| Obstetrics and Gynecology Services | نسایي او ولادي خدمات |
| Pediatric inpatient services | د کوچنیانو بستریز خدمات |
| General pediatric services | د کوچنیانو عمومي داخله |
| Neonatology Unite | د نویو زېږیدلو ماشومانو څانګه |
| IPD SAM | د شدید خوارځواکو ماشومانو څانګه |
| specialized eye services | د ستر ګو اختصاصي خدمات |
| specialized ENT services | دپوزې غوږ او ستوني اختصاصي حدمات |
| specialized orthopedic services | د ارتوپیدي اختصاصي خدمات |
| Hemodialysis | دپښتورګو احتصاصي حدمات (هیموډیالایزز) |

## ۷/۲۴ساعته بیړنیز(عاجل) خدمات
## Emergency services ۲٤ /۷

## حمایوي روغتیایي خدمات

| | |
|---|---|
| Pharmacy services | د فارمسي خدمات |
| Laboratory department | د لابراتوار څانګه |
| Blood bank | د وینې بانک |
| Imaging services | تصویري خدمات |
| Radiography | رادیوګرافي |
| Ultrasonography | تلویزیوني معاینات |
| Electrocardiograph | د زړه ګراف |
| Cardiotocography | کارډیو توکوګرافي |
| Gen Xpertservices | توبرکلوزکمپوټري معاینات |
| PCR services | د پي سي أر خدمات |
| postmortem Service | د جسدونو مراقبت او خدمات |
| Ambulances Services | د امبولانس خدمات |

## سرأپا روغتیایي خدمات
## Outpatient services

| | |
|---|---|
| internal medicine Services | عمومي داخله خدمات |
| General and Orthopedic surgical Services | عمومي جراحي او ارتوپیدي خدمات |
| Obstetrics and Gynecology Services | نسایي او ولادي خدمات |
| Pediatric Services | د کوچنیانو خدمات |
| Nutrition services | د تغذيې خدمات |
| Services Tuberculosis | توبرکلوزخدمات |
| Mental health | رواني روغتیایي خدمات |
| Skin Diseases | د پوستکي ناروغیوخدمات |
| Eye Diseases Services | د سترګو ناروغیو خدمات |
| Physiotherapy and disability Services | د فزیوتراپي او معلولینو خدمات |
| Ear, Nose and Throat diseases Services | د غوږ، پزې او ستوني ناروغیو خدمات |
| Dental Services | د غاښونو خدمات |
| Immunization Services | د واکسیناسیون خدمات |
| Voluntary confidential counseling and Testing Services | د VCCT خدمات |



## د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انستیټیوټ ( GIHS )

په هېواد کې د لومړي ځل لپاره د (۱۳۰۰ - ۱۳۰۸) ه ش کال پورې د نرسنګ بنسټ کېښودل شو. دا روغتیايي انستیټیوټ د محمد داود خان د واکمنۍ پرمهال پر ۱۳۵۴ لمریز کال د نرسنګ او قابلګۍ ښوونځي په نوم جوړ شوي و چې وروسته یې بیا په پنځه ولایتونو (کندهار، ننګرهار، بلخ، کندوز او هرات) کې خپل فعالیتونه شروع کړل.

په ۱۹۸۶ کې یې بیا نوم تغیر او د پوهاند غضنفر روغتیايي علومو انستیټیوټ باندې ونومول شو.

په لومړي سر کې ذکر شوي انستیټیوټ یواځې دوه څانګې (نرسنګ او قابلګي) درلودې چې د لسم ټولګي څخه به ورته محصلین جذبېدل، چې وررسته بیا (۸) مسلکي څانګې فعالې شوې.

اوس په نومړي انستیټیوټ کې د کانکور آزموینې له لارې په شفافه توګه محصلین جذبېږي.

یاد انستیټیوټ تر دې دمه نږدې( ۴۰۰۰۰) روغتیايي کارکوونکي روزلي او ټولنې ته یې وړاندې کړي دي. او هم مستحقو محصلینو لپاره د لیلیې سهولت برابر شوي. پوهاند غضنفر د روغتیايي علومو انستیټیوټ په لسوولایتونو ( کندهار، هلمند، فراه، هرات، ننګرهار، پکتیا، بلخ، کندز، بدخشان او کاپیسا ) کې ولایتي څانګې لري او چارې یې هم سمبالوي.

اوس مهال په مرکزي او ولایتي انستیټیوټونو کې تر ۳۵۶۸ څخه زیات محصلین زده کړې ترسره کوي او په ټولو ډیپارټمنټونو کې تدریس ترلاسه کوي.

په هیواد کې د مور او ماشوم د مړینې زیاتوالي ته په کتلو په ۱۳۸۱ ل کال کې د ټولنې قابلو او نرسنګ ( CME and CHNE )زده کړو پروګرامونه پیل شول چې له دې لارې ۳۸۴۸ د ټولنې قابلې او ۱۹۰۲ تنې د ټولنې نرسانې فارغې شوې دي چې اوس مهال د هیواد په لرو پرتو سیمو کې روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي.

چې له امله یې د مور او ماشوم د مړینې کچه مخ په کمېدو شوه او اوسمهال اکثریت روغتیايي مرکزونه روغتیايي کارکوونکي ( قابلې او یا هم نرسانې) لري.او هم د خلکو اړتیاوو ته په کتلو غضنفر د روغتیايي علومو انستیټیوټ کې په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ زیږدیزو کلونو کې د روغتیا ټولنیزې مشاورې او عامه تغذیې نوې څانګې جوړې شوې دي؛ تر څو روغتیايي کارکوونکي او د روغتیايي خدمتونو د برابرونکو لخوا کیفیت لرونکي روغتیايي خدمتونه وړاندې او د ټولو افغانانو روغتیا خوندي کړي.

## ماموریت

د نرسانو قابلو او د ژمنو متممه روغتیایي کارکوونکو لخوا د افغانانو د روغتیایي ودې لپاره روغتیایي علومو انستیټیوټونو پراخېدو ته په پام د وړتیا پر بنسټ د روزنیزو پروګرامونو وړاندې کولو له لارې اغېزمن ګډون زیاتول.

## موخې

منځنیو لوړو زده کړو اصولو ته په پام د افغانستان د روغتیایي سیسټم له اړتیاوو سره سم مسلکي بشري ځواک تیارول.

په مرکز او ټولو ولایتونو کې د عامې روغتیا وزارت د پالیسۍ، ستراتېژۍ او روزنیزو لارښودونو له پلي کېدو ډاډ ترلاسه کول.

د مور او ماشوم د روغتیا وضعیت ودې او د ناروغیو او مړینې شمېر کمول.

## ډیپارټمنټونه او پرسونل

د پوهاند غضنفر روغتیایي علومو انستیټیوټ ۱۵ ډیپارټمنټونه لري اسلامیات، قابلګي، نرسنګ، رادیولوژي، غاښونو پروتیز، انستیزیا، طبي لابراتوار، فزیوتراپي، فارمسي، عامه تغذیه، ناروغی، کمپیوټر، انګلیسي او ټولنیز روغتیایي سلاکاران.

په ټولیز ډول اوسمهال (۲۷۴) پرسونل شتون لري چې(۱۴۱)تنه یې تخنیکي او (۱۳۳)یې اداري او خدماتي دي.

دوه نوي ډیپارټمنټونه به (سترګو تکنیشن او بایومېډیکل انجنیرنګ) به نږدې وخت کې تاسیس شي.

د پوهاند غضنفر روغتیایي علومو انستیټیوټونه په مرکز او ولایتونو کې په ټولیز ډول (۶۳۴) پرسونل لري چې

( ۳۷۰ ) تخنیکي او (۲۶۴) اداري او خدماتي دي.

کونړ انستیټیوټ تشکیل منظور شوي او ژر به فعال شي.

## په روغتیایي علومو انستیټیوټونو کې د ګډون چارې

په مرکز او ولایتونو کې د غضنفر روغتیایي علومو انستیټیوټونو ته له اړتیاوو سره سم او د شته طرزالعمل په نظر کې نیولو سره د دولسم ټولګي

شخه فارغ محصلین د ازموینو ملي اداري له لوري د اخیستل کېدونکي آزموینې په اساس معرفي کېږي.

انستیزیا څانګې ته د ګډون اړوند چارې د غضنفر روغتیایي علومو انستیټیوټ له لارې د یوې ځانګړې آزموینې له لارې ترسره کېږي.



## لاسته راوړنې

د اړتیا په اساس د روغتیا ټولنیزو مشاورینو ( (Health Social Counselorsاو عامه تغذیه ( Public Nutrition)د روزلو لپاره په غضنفر روغتیایي علومو انسټیټیوټ کې د روغتیا ټولنیزو مشاورینو او عامه تغذیه ډیپارټمنټونه جوړ شوي دي.

په نوي تشکیل کې د سترګې تکنیشن او بایومیډیکل ډیپارټمنټونه اضافه شوي دي.

شاوخوا (۴۲۰۰) د ټولنې قابلې او (۲۶۰۰ ) د ټولنې نرسانې روزل شوي دي.

د فزیوتراپي او مصنوعي اندام جوړولو زده کړو اعتبار ورکولو بورډ Physiotherapy, Prosthetic Orthotic Education Accreditation Board (PTPOEAB) جوړ شوي او وسمهال د کیفیت ښه کولو لپاره کار کوي.

د روغتیا ټولنیزې مشاورې زده کړو بورډ Health Social Counselors Education Accreditation Board ( HSCEAB ) جوړ شوي.

په ټول هیواد کې تر (۱۱۰) زیات د قابلګۍ او نرسنګ پروګرامونه ځارل شوي او د زده کړو د کیفیت له امله اعتبار ورکول شوي دي.

## نبوي لارښود!

نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي:
د لوښو سرونه پټ کړئ او د مشکو خولې تړلې وساتئ.
(رواه مسلم)

نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي:
هر یو له تاسو څخه شپون (چوپان) یاست او د خپلې رمې(رعیت) څخه مسئول یاست.(رواه البخاري)

نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي:
غوره په تاسو کې هغه څوک دي چې قران کریم زده کړي او بیا یې نورو ته ورسوي.

نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي:
قوي مؤمن د ضعیف مؤمن څخه ښه او پر الله تعالی باندې ګران دي.(رواه مسلم)

نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي:
کامل مؤمن هغه څوک دي چې د ښو اخلاقو خاوند وي او په خپل اهل او کورنۍ مهربانه وي.( رواه الترمذي)

نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي:
رحم وکړئ پر هغه چاچې په ځمکه کې دي، تر څو هغه ذات رحم وکړي پر تاسو باندې چې په اسمان کې دي.( رواه ابوداود)

## روغتیایي پیغامونه!

( د خوارځواکۍ مواد) یو ډول غذایي توکي دي ، چې د روغتیایي مرکزونو لخوا خوارځواکو ماشومانو ته د درملنې لپاره ورکول کېږي.
دا د خوارځواکۍ د درملنې غذایي مواد باید لویانو او روغو ماشومانو ته ورنکړل شي، ځکه دا مواد د یو ناروغ ماشوم حق دي چې پرې روغ شي او هېڅوک یې د خرڅولو حق نه لري.
د ښځلو اوبه تل په پاک لوښي کې ذخیره کړئ،چې سر یې پټ وي .

د ناخوندي ځایونو لکه حوضونو،سیندونو،ویالو،او هغه ځاه ګانو اوبه چې سر یې لوڅ وي، له کارولو مخکې وایشوئ، تر څو پاکې او د ګټې اخیستنې وړشي.



له پېدایښت څخه تر دوه کلنۍ پورې هره میاشت باید خپل ماشوم نږدې روغتیایي مرکز ته د وزن پوره کولو او د هغه د ودې حالت د ارزونې لپاره بوځئ، چې د ماشوم د سمې ودې په اړه مطمئن شئ.

هرماشوم د ژوند کولو، زده کړې،ګډون او پرمختګ حق لري.
ترڅنګ یې والدین د ماشومانو په فزیکي او روحي وده او همدارنګه پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د ټولنې هر وګړي مسئولیت لري چې خلک د واکسین په ګټو خبر او د واکسین په تطبیق سره خپل ماشومان د تل پاتې معیوبیت څخه وژغوري.

که ماشوم مو په نس ناستي اخته وي، باید او.آر.اس محلول (نیمکول) ورکړل شي او ورسره د زینک ګولۍ تر لسو ورځو پورې ورکړئ. که نس ناستي یې له دریو ورځو څخه ډېر دوام ومومي، نو نږدې روغتیایي مرکز ته یې بوځئ.

هر ماشوم ته باید تر دوه کلنۍ پورې د مور د شیدو تر څنګ بشپړوونکي خواړه هم ورکړل شي؛ خو په لومړیو شپږو میاشتو کې ماشوم ته یواځې د مور شیدې د هغه له غوښتنې سره سمې ورکړئ.

امېدواره مېرمنې باید د خپل ځان او خپل ماشوم د روغتیا پوهېدو لپاره د امېدوارۍ په بهیر کې اته ځله روغتیایي مرکز ته ولاړې شي او زېږون په نږدې روغتیایي مرکز او یا د ولادي ماهر تر څارنې لاندې وکړي.



# سـکـبـیـز



سکبیز یو د پوستکي د عامو ساري پرازیتي انتانونو څخه دي، چې د سارکوپټي سکبیز په نوم یادېږي. دا ډول پرازیت مایکروسکوپي دي، د انسان پوستکي سوري کوي، چې د یو تونل په څېر لاره جوړه وي او په ښځینه انجامایټ کې هگۍ اچونه کوي، هگۍ یې له ۳ تر ٤ ورځو په اوږدو کې د کوربه یا اخته کس د معافیتي غبرگون سبب او د پوستکي د خارښت لامل گرځي، چې د اخته کس پوستکي سره د مستقیمي اړیکي له لارې روغ کس ته انتقالېږي، د بېلگې په توگه، په دې ناروغۍ د اخته والدینو څخه ماشومانو ته، چې هغوی په غېږکې ونیسي، په عمومي ځایونو کې اوسېدل؛ لکه لیلیې، ښوونځې، مدرسې او یا د عامو څېزونو کارول؛ لکه ځان پاک، عامې جامې او ورته نور، چې د یادې ناروغۍ د پېښو زیاتېدو لامل کېږي که څه هم سکبیز د پتوجني مرضونو د لېږد لامل نه کېږي خو د شدید خارښت او د پوستکي د خرابېدو سبب گرځي، چې د پوستکي د باکتریایي مرضونو د نفوذ او خطر یو عمده لامل گڼل کېږي.

## سارکوپټي سکبیز:

د انسانانو یو ډول پرازیتي ناروغۍ ده، چې د خپل ژوند ټولې ۳۹ ورځې په اپیډرم کې تېروي په اپیډرم کې د ښځینه جنس القاح صورت نیسي او په دې طبقه کې یې نفوذ کوي، چې وروسته بیا د بارو په نوم کوچني تونلونه رامینځته کوي په بارو کې ښځینه جنس د ٦٠ تر ٩٠ عددو هگۍ اچوي، چې له لاروا وروسته بیا په نیمفاس بدلیږي او په پای کې د سکبیز په بالغ مایټ بدلیږي، د سکبیز نښې په ځینو کسانو کې معلومیږي او په ځینوکې سکبیز پرته له نښو څخه وي، ولې د ودې سبب کېږي او روغو انسانانو ته انتقالیږي.

## کلینیکي ریکارډ:

د پوستکي خارښت په ځانگړې توگه د شپې له خوا وي ، چې په لویانو کې د سور بخن بُخار په ډول چې کله ناکله په تیاره سور بخن شکل هم وي او په هغه ماشومانو کې، چې عمرونه یې کم وي او خبرې نه شي کولای د سخت خارښت سبب کېږي، چې له امله یې د ماشومانو د بې خوبۍ لامل کېږي.

## فزیکي معاینه:

په سکبیز اخته ناروغان، چې د اکسوریشن او پپولر درماټیټ په موجودیت کې یې مراجعه کړې وي، کلینیکي نښې یې خارښت لرونکي ویزیکل پسټول پپولونه وي او معمولا په بدن، لاسونو، د گوتو په منځنۍ ساحه او په لباس پوښل شویو ځایونو کې لیدل کېږي، چې کولای شي په ماشومانو کې د لاسونو ورغوي پښې او غاړه هم اغېزمنه کړي.

## توپیري تشخیص :

سکبیز ناروغۍ باید له اتوپیک ډرماټیټ، انسیکټ بایټ، ریکشتن او ورته نورو خارښ لرونکو ناروغیو د تشخیص څخه توپیر ولري.

## درملنه:

پنځه فیصده پرمیترین ( Permethrin) یې اغیزمن درمل دي، چې د ویده کېدو پر مهال په ټول بدن له غاړې تر پښو او نوکانو لاندې ساحې باندې ووهل شي او د ورځې لخوا ورمیکتین فمي له یوې تر اووه ورځو ورکول شي د بنزایل بزواټ مرهم له کارونې ۱۲ ساعته وروسته دې د سکبیز ضد صابون او گرمو اوبو سره حمام وکړي او پاک مینځل شوې لباس دې واغوندي د شدید خارښت په صورت کې دې د یادو درملو سربېره انټي هستامنیک هم وکاروي د اخته کس لباس دې په یو پلاستیک کې په سر تړلي توگه د ۷۲ ساعتو لپاره لمر ته کېښودل شي؛ ځکه چې د سکبیز پرازیټ د انسانانو له بدن پرته تر دریو ورځو زیات ژوند نه شي کولای.

# جوزجان ولایت کې د لسګونه روغتیایي مرکزونو جوړېدل

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو پخواني مرستیال ښاغلي مولوي محمد اسحاق صاحبزاده جوزجان ولایت ته د خپل سفر پرمهال د دغه ولایت په یو شمېر لروپرتو سیمو کې د روغتیا په برخه کې بنسټیزې پروژې پیل او پرانیستلې چې عبارت دي له:

۱ـ د جوزجان ولایت خواجه دوکوه ولسوالۍ په دښتې لیلې سیمه او د درزاب ولسوالۍ په بتان کلي کې د نږدې ۲۸ میلیونه افغانیو په لګښت دوه روغتیایي مرکزونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

۲ـ د قوش تیپه ولسوالۍ په ګردن کلي کې د یو روغتیایي مرکز د بنسټ ډبره کېښودل شوه او هم د دغه ولایت په دوه سوه بستریز صدري روغتون کې د ښځینه وو د عمومي داخله څانګې ۳۰ بسترونو پرانسته د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې تر سره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

۳ـ د جوزجان ولایت دوه سوه بستریز ولایتي روغتون کې اداري برخې لپاره د ۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې نوې ودانۍ د جوړېدو بنسټ ډبره د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه.

۴ـ د جوزجان ولایت منګجک ولسوالۍ په مهاجر دالي سیمه کې د پنځوس زره امریکایي ډالرو په مالي لګښت یو روغتیایي مرکز پرانیستل شو.

۵ ـ د جوزجان ولایت قرقین ولسوالۍ دینار سیمه کې د (۲۸) میلیونه افغانیو په لګښت د یو روغتیایي مرکز ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.



# فوايد و عوارض دواهاي ACE- Inhibitors

نوشته شده توسط: رنځوروال داکتر غلام محبوب ویژه
موظف در شفاخانه ۱۰۲ بسترخیرخانه

اين دواها به سه گروپ عمده; نهي كننده هاي ,ACE نهي كننده آخذه هاي آنجيوتنسين II و نهي كننده هاي رينين تقسيم مي‌شوند .معمولاً به عنوان دواي ابتدايي درفشارخون خفيف تا متوسط استفاده مي‌شود و نهي كننده هاي ACE در مريضان سفيد پوست و جوان موثراست اما در مريضان سياه پوست و افراد مسن و در فشارخون سيستوليک موثرنمي‌باشد اگرچه به عنوان تداوي در حدود چهل الي پنجاه فيصد مريضان فشارايشان كنترول مي‌گردد, تركيب از اين ادويه همزمان با يک ديوريتيک و يا کلسيم چينل تاثيرات آن را قوي مي‌سازد.

نهي كننده هاي ACE دواي انتخابي در نزد مريضان مبتلا به نوع ديابت Iكه با پروتين يوري واضح و يا علايم از عدم كفايه كليه را دارا باشند مرحله نهايي عدم كفايه كليوي را به تاخير مي اندازد.

با استفاده از اين تاثيرات شان در نزد مريضان نوع I و II ديابت كه مايكروالبومين يوري دارند حتي در صورت كه موضوع كنترول فشار در ميان نباشد قابل استفاده است.

ممكن است پيشرفت امراض كليوي غير ديابتيک را نيز به تاخير بيندازد و جهت جلوگيري از اختلاطات قلبي نهي كنندهACEمانند رميپريل تعداد واقعات مرگ هاي قلبي وعايي سكته هاي قلبي غير كشنده را كاهش مي‌دهد, همچنين باعث كاهش عدم كفايه قلبي جديد و كاهش تشوش فعاليت كليه مي‌شود.بايد متذكر شد كه سقوط فشار خون شديد مي‌تواند در مريضان مبتلا به تضيق دو طرفه شريان كليوي بوجود آيد و بلند رفتن آني كرياتينين خون ممكن رخ دهد كه با قطع ادويه نهي كننده ACEو همچنان اسيدوس توبولر كليوي نوع IV نيز برگشت مي كند .هايپركاليمي، سرفه هاي خشک، آنجيواديم , رش هاي جلدي از جمله عوارض جانبي ادويه بوده كه از باعث نهي كينيناز بوجود آمده و همچنان استفاده از نهي كننده هاي ACEدر ترايمستر دوم و سوم حاملگي باعث نقايص جنيني ناشي از سقوط فشار خون و كاهش جريان خون كليويمي گردد.



## نهي كننده اخذه هاي انجيوتنسين

ARB ها مي‌توانند عوارض قلبي و عايي را در مريضان مبتلا به فشارخون بلند و همچنان در مريضان عدم كفايه قلبي و مريضان ديابت نوع II با نفروپتي بهبود بخشد.

نزد مريضان مبتلا به فشارخون بلند با علايم تغييرات الكتروكارديوگرافي ناشي از هايپرتروفي بطين چپ ادويه لوسارتان همراه با اتينولول به عنوان تدواي اساسي مفيد بوده و همچنان كاهش قابل توجه در ستروک هاي دماغي
با استفاده از لوسارتان كاهش يافته است.

استفاده تركيبي در تدواي فشار خون بلند از ARB و نهي كننده هاي ACE توصيه نمي‌شود زيرا هيچ مزيتي نسبت به استفاده از يک دوا با دوز بلند در صورت ضرورت ندارد.

برخلاف نهي كننده هاي ACE ادويه هاي ARB ندرتاً باعث سرفه مي‌شود و همچنان رش هاي جلدي و آنجيواديم در اين دوا كمتر است. بايد متذكر شد كه يكي از عوارض جانبي اين دوا هايپركالمي و سقوط فشارخون در صورت تضيق دو طرفه شريان كليوي ممكن است بوجود بيايد, علاوتاًARB و نهي كننده هاي ACE نسبت به كلسيم چينل بلاكر و بيتا بلاكرها كمتر باعث افسرده گي ناشي از ادويه مي‌شود.

# د عامې روغتیا وزارت یو کلن فعالیتونه او لاسته راوړنې

۱.د پرمختیایي پروژو عملیاتي پلان او د روغتیا د لومړیتوبونو او اړتیاوو پر بنسټ پنځه کلن پلان چمتو شوي او اړونده مقاماتو ته استول شوي دي.

۲.د درملو او روغتیایي محصولاتو قانون، د خوړو خوندیتوب، او اړوند طرزالعملونه او مقررات جوړ شوي دي.

۳.د سراپا کلینیکونو، لابراتوارونو او تشخیصیه مرکزونو د اعتبار ورکولو او درجه بندۍ لپاره د معیارونو لومړنۍ مسوده چمتو شوې.

۴.په مرکز او ولایتونو کې د ۲۷۸ خصوصي روغتونونو اعتبار ورکونې او درجه بندۍ مراحل تر سره شوي دي.

۵.د کاري پروسو ساده کول، د خدماتو په پړاوونو کې د غیر ضروري ګامونو کمول ، د فساد د مخنیوي او د هېواد ټولو اوسیدونکو ته د متوازن او عادلانه روغتیایي خدماتو وړاندې کولو اړوند لازم اقدامات تر سره شوي دي.

۶.د تشخیص او درملنې لپاره د نرخونو او د روغتیایي خدماتو بیې چمتو شوي او د منظورۍ په موخه د مشرتابه عالي مقام ته پیشنهاد شوې دی.

۷,په ۴ ولایتي روغتونونو (بامیان، بدخشان، نیمروز او فراه) کې د رواني روغتیا د ۸ بستریزو ۴ واحدونو جوړول.

۸.د واکسین ذخیره کولو لپاره د ګودامونو سربېره دمعافیت کتلوي ۵ حوزوي تعمیرونه جوړ شول.

۹.د واکسینونو د تقاضاء د زیاتوالي لپاره په ولایتونو کې بین السکتوري کمیټې جوړې شوې.

۱۰.د امیرالمؤمنین حفظه الله د عالي مقام له حکم سره سم د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د کورنیو چارو وزارت اړوند زندانونو او حمایوي کمپونو ته د ګرځنده روغتیایي ټیمونو جوړول او ځای پر ځای کول تر سره شوي.

۱۱.په هېواد کې د روغتیایي ځالو او روغتیایي مرکزونو لپاره د ۸۱ امبولانسونو او وسایطو وېش تر سره شوي.

۱۲.درې زره څلور سوه نهه اتیا ( ۳۴۸۹ ) روغتیایي کارکوونکو او( ۲۱۰ )د ستوماتولوژي اړوند غاښونو ډاکټرانو ته د فعالیت جوازونه چاپ او وېشل شوي دي.

۵۴۶۱۳, ګرځنده روغتیایي ټیمونه د روغتیا او تغذیې ټیمونو د ستراتیژۍ پراساس ثابتو مراکزو ته بدل شوي.

۱۴.د لویو لارو په اوږدو کې د ټروما سنټرونو جوړولو، په ولایتي روغتونونو کې د نویو وارډونو د رامنځته کولو او په روغتونونو کې د بسترونو د ظرفیت د لوړولو ارزونه له ۲۲ ولایتونو څخه راټوله شوې ده.

۱۵.د جوزجان ولایت د قرقین ولسوالۍ د CHC او ۳۰ بستریز روغتون د دوو نیمو پروژو د جوړولو چارې بشپړې شوې

۱۶.د روغتیایي خدماتو د پراختیا په موخه په هېواد کې د روغتیایي مرکزونو د جوړولو لپاره د ۲۰۰ سپینو سیمو تثبیت تر سره شوي دي.

۱۷.په شیخ زاید روغتون کې د راډیولوژي ډیپارټمنټ جوړول، په شمول د CT سکین، EEG، ډیجیټل XRAY او الټراساونډ ماشینونو فعالول تر سره شوي دي.

۱۸.په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د پولیو د تشخیص لابراتوار جوړول او په عصري وسایلو سمبالول چې په درې مرحلو کې به تکمیل شي.

۱۹.په مرکزي لابراتوارونو کې د کرونا ویروس بیلابیل ډولونو تشخیص او کشف کولو لپاره د یاد لابراتوار په عصري وسایلو سمبالول

۲۰.د افغانستان اسلامي امارت له داخلي بودیجې څخه د روږدو کسانو د درملنې په خاطر په مرکز او ولایاتو کې ۸ نوي مرکزونه جوړول چې په کابل او کندهار کې سل بستریز ، هرات، زابل، غزني، کندز، فاریاب او نورستان کې ۲۰ بستریز مرکزونه جوړ شوي دي.

۲۱.په کندهار او بلخ ولایتونو کې د ۱۵ بسترونو او په هلمند، تخار او لوګر ولایتونو کې د ۱۰ بسترونو په ظرفیت سره د جدي پاملرنې ( ICU ) خدماتو پراختیا تر سره شوي چې په لغمان، خوست، غزني او بدخشان ولایتونو کې د ۱۰ بسترونو په ظرفیت د پاملرنې واحدونو د جوړولو مراحل جریان لري.

۲۲, د۲۵۶ بابه روغتیایي مراکزو د جوړېدو او ارتقاء لیست چمتو او د مالیې وزارت تر څنګ له نړیوالو اداراتو سره شریک شوي دي.

۲۳.د سپینو سیمو معلومول او په ولایتونو (بدخشان، تخار، بغلان، خوست، لوګر، پکتیا، کنړ، نیمروز، لغمان او غزني) کې د ۱۰۰ صحي ځالو جوړول.

۲۴.د اړمنو سیمو لپآره د هېواد په ۱۲ ولایتونو کې د پرمختیایي بودیجې له لارې د ګرځنده روغتیایي ټیمونو شمېر له ۴۲ څخه ۹۶ ټیمونو ته لوړ شوي دي.

۲۵.د خیرخانې ۱۰۲ بستر روغتون کې د تغذیې د ۲۰ بستریزو خدماتو فعالول

۲۶.د شکایتونو او طبي سرغړونو بیلا بیلو قضیو ته رسیدنه شوې ده.

۲۷.د هېواد په ټولو ولایتونو کې د توبرکلوز د تشخیص لپاره ۱۴۹ د جین ایکسپرټ ماشینونو نصب او فعالول.

۲۸.د کورنیو درملیزو تولیداتو د ملاتړ لپاره د یوې کمیټې جوړول او د کورنیو تولیداتو له فابریکو څخه د ۱۰۵۶دوله درملو ثبت او تاید.

۲۹.د کورنیو تولیداتو د ملاتړ او چارو د اسانۍ په پایله کې په هېواد کې د درملو د تولید څلور لویې خصوصي فابریکې پرانیستل شوې.

۳۰.د بهرنیو کمپنیو او د اړونده درملیزو اقلامو د ثبت د نوې کړنلارې په اساس د درملو او روغتیایي محصولاتو (۵۷) کمپنۍ او د هغوی اړوند(۸۷) درملیز اقلام ثبت شوي دي.

# د عامې روغتیا وزارت یو کلن فعالیتونه او لاسته راوړنې

۳۱.دخوړو او درملو معینیت کې د اداري چارو د لا چټکتیا او روڼتیا لپاره د سیسټم ډیجیټل کولو پروژه پر لار اچول شوې چې په درې پړاوونو کې به تطبیق شي.

۳۲د اکمال تخصص برنامه چې د روغتیایي سیستم د خودکفایی او علمي ظرفیتونو لوړولو لپاره خورا ستر ارزښت لري همدا مهال د هیواد په ۳٦ روغتونو کې د تخصصي برنامو ۳۲ څانګې فعالې دي چې په یادو څانګو کې نږدې ۱۷۰۰ تنه ټریني متخصصین په تخصصي زده کړو بوخت دي.

۳۳.په ۱۴۰۲ ه ش کال کې د اکمال تخصص برنامې د کریکولم بیا کتنه د اوسنیو اړتیاوو او نړیوالو معیاراتو سره سم تر سره شوه ، چې په نتیجه کې د تخصصي برنامو کلونه د نړیوالو معیاراتو سره برابر او د ځینې رشتو موده زیاته شوه.

۳٤په ۱۴۰۲ه ش کال کې د اکمال تخصص برنامې لپاره د کاندیدانو څخه ازموینه په لمړي ځل په نړیواله ژبه له نړیوالو معتبرو ریفرنسونو څخه اخیستل.

۳۵د اکمال تخصص برنامې په څانګو کې اړتیا ته په لیدو سره تازه شپږ نورې رشتې اضافه شوې چې په نږدې کې به اړونده رشتو کې متخصصین جذب شي.

۳٦د اکمال تخصص کلنۍ ازموینه په لمړي ځل مرکزي حالت غوره کړ او په نړیوالو اصولو برابره شوه .

۳۷د اکمال تخصص ریاست له لوري وروسته له څو کلونو ځنډ د تخصص څخه د فارغېدو پر مهال له متخصصینو جامع ( کمپریهینسیف ) ازموینه په بریالیتوب سره واخېستل شوه تر څو تخصصي برنامې نړیوال معیارات پوره او اعتبار ورکونې لپاره اساسي کار تر سره شي.

۳۸د تخصصي برنامې د لا تنظیم او پراختیا په موخه په هیواد کې د ټرینر متخصصینو د خالي بستونو ازموینه د امتحاناتو ملي کمیټې په توسط تر سره شوه چې نسبت وړاندې ته یې خورا شفافیت درلود.

۳۹په لمړي ځل د اکمال تخصص برنامې اړوند ټرینر متخصصینو او ټرینیانو لپاره بریښنايي ډیټابیس نږدې چمتو شوي دي چې په وسیله به یې د تخصص اړوند ټول موارد تنظیم کېږي.

٤۰ په ټولو خصوصي د روغتیایي علومو انسټیټوټونو کې د نصاب معیاري کول تر سره شوي.

٤۱د خصوصي روغتیایي علومو انسټیټوټونو (۹) خپلسرې څانګې وتړل شوې او قانوني هدایات ورته تر سره شول.

٤۲ په ۱۴۰۳ه ش کال کې له دوه کلن نصاب څخه د قابله ګۍ پروګرام درې کلن پروګرام ته ارتقاء او د نصاب تطبیق.

٤۳د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د خصوصي روغتیایي علومو په انسټیټیوټونو کې د ۱۴۰۳ه ش کال د ازموینې له لارې د اووه ویشت زره شپږ سوه دوه څلویښت (۲۷٦۴۲) تنو محصلینو د زده کړو پیل.

٤٤د روغتیایي سیستم د پرمختګ او خدماتو د مؤثریت په موخه په ټول هېواد کې نږدې دوه شپیته زره یو دیرش

( ٦۲۰۳۱) تنه د روغتیا په مختلفو څانګو کې روزل شوي او د ارتقاء ظرفیت برنامې ورته پر برابرې شوې دي چې یادې برخې عبارت دي له : د ناروغیو درملنه، د ساري ناروغیو مخنیوي او کنټرول، د ماشومتوب اړوند ناروغیو مدیریت، د میندو روغتیا، رواني روغتیا، د بیړنیو پیښو پر مهال د ټولنې سره مفاهمه، د روغتیا مدیریت او ځینې نورو برخې شاملې دي.

٤۵. په تېر کال کې د ۲۰۰ رواني - ټولنیزو مشاورینو روزنه د یو کلنې ډیپلومې په کچه تر سره شوې ده.

٤٦. په افغانستان کې د یو کلن ساحوي ایپیډیمولوژي روزنیز پروګرام پنځم پړاو ترسره کول.

٤٧. د روغتیا ټولنیزې مشورې ورکولو دوه کلن پروګرام کې د ۹۸ کسانو روزنه.

٤۸. د MH GAP پروګرام کې د ۴۵۰ تنو د لومړنۍ روغتیایي پاملرنې ډاکټرانو روزنه.

٤۹. د لومړنۍ رواني مرستې پروګرام کې د زر تنو د ټولنې روغتیایي کارمندانو روزنه.

۵۰. یو څلویښت زره درې سوه اته ویشت (۴۱۳۲۸)د ټولنې روغتیایي کارمندانو دوه ورځنۍ CBNP ریفریشر پروګرام ترلاسه کړي.

۵۱. د ۳٦۴ ولسوالیو څخه د زده کونکو د نیمه طبي زده کړو لپاره زمینه سازي د دې ژمنې سره چې له فراغت وروسته به بېرته اړوندو ولسوالیو کې خدمت تر سره کوي چې موخه یې لرې پرتو سیمو ته د خدماتو پراختیا او ظرفیتونو را منځ ته کول دي.

۵۲. په مرکز او ولایاتو کې د روغتیایي علومو له انسټیټونو څخه د ۱٦۰۸ تنو محصلینو فراغت.

۵۳. په اته ولایتې د روغتیایي علومو انسټیټیوټونو کې د ۱۹۵۰ تنو نویو زده کونکو د زده کړو پیل

۵۴. د عامې روغتیا وزارت په ۱۴۰۲ه ش کال کې د شپږ زره درې سوه څوارلس (٦۳۱۴)بستونو زیاتیدنه، چې زیاته برخه یې د ازاد رقابت له لارې په مرکز او ولایاتو کې استخدام او د ځینې بستونو لپاره د ګمارنې مراحل په جریان کې دي.

۵٦. د تخصصي او دریمي روغتونونو متخصصینو لپاره د عادي بودیجې څخه NTA ته د معاشونو بدلول.

۵۷. د مرکز او ولایتونو په سطحه د خوړو او درملو معینیت (۷۷۳) بستونو ګمارنه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د ادارې په همکارۍ د ازادې سیالۍ له لارې په ۱۳مرحلو کې تر سره شوې ده.

## د روغتیا تمویل او شفافیت:

۱. دا چې د تیرې ادارې پر مهال د روغتیایي سیستم د خودکفایۍ اړوند اساسي څه نه دي تر سره شوي او د خدماتو زیاته برخه پر بهرنیو مرستو تکیه پریښودل شوې نو د عامې روغتیا اړوند ځینې خدمات لا هم د بهرنیو اداراتو د مالي ملاتړ په توسط تر سره کیږي ، خو یو څه چې مثبت دي نسبت وړاندې ته د دولت ونډه په روغتیایي خدماتو کې زیاته شوې د پرسونل د معاشاتو ، د روغتیایي خدماتو وړاندې کولو ، د درملیزو او تشخیصیه خدماتو او ځینې نورو برخو تمویل اوس زیاته اندازه له داخلي بودیجې تر سره کیږي.

۲.دافغانستان اسلامي امارت د حاکمېدو څخه وړاندې د عامې روغتیا وزارت مقروضیتونو اندازه نږدې

نهه ملیارده دوه سوه اوه اویا میلونه افغانۍ ( ۹,۲۷۷,۶۶۵,۶۳۴) ښودل شوې وه ، د افغانستان اسلامي امارت د حاکمېدو څخه را په دې خوا د مقروضیتونو د اسنادود بررسي او کره کتنې په نتیجه کې نږدې څلور ملیارده افغانۍ (۳,۹۷۹,۶۸۰,۲۸۵ ) قرضونه تثبیت شول چې نسبت وړاندې ته د شفافیت په اساس پنځه ملیارده او دوه سوه میلونه افغانۍ(۵,۲۹۷,۹۸۵,۳۴۹) توپیر رامنځته شو.

# د روغتيا تمويل او شفافيت

۳. په ۱۴۰۲ ه ش مالي کال کې ۲۸۴ مليونه عوايد را جمع شوي، چې له دغه جملې څخه ۱۸۴ مليونه خالص عوايد دي ( اخذفيس حق الامتياز، با ارزښته اسناد ،د ستاژ فيس او ليلام )

۴. د تېرې اداري پر مهال د عامې روغتيا وزارت په حقيقي او حکمي اشخاصو باندې نږدې يو مليارد او اوه ويشت ميلونه افغانۍ (۱,۰۲۷,۸۱۴,۲۷۷) قرضونه پاتې وو چې په ۱۴۰۲ ه ش کال کې پنځه سوه يو شپيته ميلونه افغانۍ (۵۶۱,۳۹۲,۶۲۴)قرضونه تصفيه شول.

۵. د ازادې داوطلبۍ او شفافې پروسې له لارې په دا وروستيو کې د نهه سوه شپږ ويشت ميلونه افغانيو په ارزښت د درملو ، اجناسو او ساختماني ۳۰ پروژو لپاره تدارکاتي پروسې تر سره شوې دي.

## وړاندې شوي روغتيايي خدمات ( وقايوي او معالجوي ) په هيواد کې د شته مراکزو نوعيت او شميره

| شماره | د روغتيايي مرکز نوعيت | تعداد |
|---|---|---|
| ۱ | تخصصي روغتونونه | ۳۵ |
| ۲ | حوزوي روغتونونه | ۸ |
| ۳ | ولايتي روغتونونه | ۲۶ |
| ۴ | د ولسوالۍ روغتونونه | ۹۳ |
| ۵ | جامع روغتيايي مرکزونه | ۴۳۶ |
| ۶ | اساسي روغتيايي مرکزونه | ۱۰۲۹ |
| ۷ | فرعي روغتيايي مرکزونه | ۱۳۸۸ |
| ۸ | روغتيايي ځالې | ۴۶۷ |
| ۹ | ګرځنده روغتيايي ټيمونه | ۵۳۴ |
| ۱۰ | نور روغتيايي مرکزونه | ۱۹۶ |
| | مجموعه | ۴۲۱۲ |

## د يو کال په اوږدو کې لاندې روغتيايي خدمات هيوادوالو ته وړاندې شوي:



| خدمات | ارقام | |
|---|---|---|
| سراپا خدمات | ۸۷۹۸۷۱۰٤ | اوه اتيا ميلونه نهه لکه اوه اتيا زره يو سل څلور |
| د ICU خدمات | ٤۷۱۱ | څلور زره اوه سوه يوولس |
| داخل بستر خدمات | ۱۹۸٦٦٥۰ | يو ميلون نهه لکه شپږ اتيا زره شپږ سوه پنځوس |
| لوی جراحی عملياتونه | ۲٥٥۳۰۰ | دوه لکه پنځه پنځوس زره درې سوه |
| کوچنی عملياتونه | ۳۸۹٥۸۳ | درې لکه نهه اتيا زره پنځه سوه درې اتيا |
| خدمات هيموديياليز | ٦٥۳۰۰ | پنځه شپيته زره درې سوه |
| زيږون | ۹۰۰۸٥۰ | نهه لکه اته سوه پنځوس |
| د سرطان ناروغانو ته خدمات | ۲۱٦۱٤ | يو ديرش زره شپږ سوه څوارلس |
| د امبولانس خدمات | ٤۸٥٥۰ | اته څلويښت زره پنځه سوه پنځوس |

۱. په ټول هيواد کې د درملنه شويو روږدو کسانو شمير درويشت زره شپږ سوه دوه نوي (۲۳۶۹۲) دي چې له جملې يې نارينه: ۱۹۳۶۸، ميرمنې: ۲۰۸۲، ښځينه ماشومان: ۶۸۸، نارينه ماشومان: ۶۸۱، نارينه ځوانان: ۶۱۵، ښځينه ځوانان: ۲۵۸ درملنه شوي‌دي.

۲. په ټول هيواد کې د ملاتړ په کمپونو کې د لومړنۍ درملنې او مداخلو شمير يوويشت زره درې سوه اته شپيته (۲۱,۳۶۸)تنه دي



د یو کال په اوږدو کې لاندې روغتیایي خدمات هیوادوالو ته وړاندې شوي.

۳. په هیواد کې درې زره اوه سوه څلور پنځوس (۳۷۵۴) تنه روږدي په کورونو/ زندانونو کې تداوي شوي چې له جملې یې نارینه: ۳۰۳۹، ښځې: ۵۲۴، نارینه تنکي ځوانان: ۳۳، ښځینه تنکي ځوانان: ۱۶، نارینه ماشومان: ۶۹، ښځینه ماشومان: ۷۳) تنه دي.

۴. په هیواد کې درې زره اوه سوه څلور پنځوس (۳۷۵۴) تنه روږدي په کورونو/ زندانونو کې تداوي شوي چې له جملې یې نارینه: ۳۰۳۹، ښځې: ۵۲۴، نارینه تنکي ځوانان: ۳۳، ښځینه تنکي ځوانان: ۱۶، نارینه ماشومان: ۶۹، ښځینه ماشومان: ۷۳) تنه دي.

۵. د ترلاسه شویو روږدو د سکرینینګ قضیو شمیر دوه ویشت زره اته سوه دیارلس ( ۲۲,۸۱۳ ) تنه دي.

۶. د روږدو کسانو د درملنې په مرکزونو او کمپونو کې پنځه دیرش زره څلور سوه دوه نوي (۳۵۴۹۲ ) تنو ته رواني او انګیزه یي خدمات وړاندېشوي دي.

۷. د روغ شویوروږدو لپاره د تعقیبي غونچو شمیر یو سل دوه نوي زره څلور سوه شپږ اتیا ( ۱۹۲,۴۸۶ ) دي

۸. د دوه ویشت زره ( ۲۲,۰۰۰ ) څخه د زیاتو روږدو کسانو تعقیب د ساحوي ټیمونو او د مرکزونو د روغتیایي پرسونل له لوري تر سره کیږي ترڅو دوی بیرته د مخدره توکو کارولو ته متوجه نه شي او د اعتیاد څخه یې مخنیوي وشي.

۹. د یو میلیون دوه لکه پنځه اویا زره درې سوه یو پنځوس (۱۲۷۵۳۵۱ ) کوچیانو لپاره هراړخیز روغتیایي خدمات لکه واکسین، تغذیې، عامه پوهاوي، رواني خدمات ، د زیرون خدمات او داخل بستر خدماتوړاندې شوي دي.

۱۰. د کوچیانو په منځ کې دولس زره یو سل درې دیرش ( ۱۲,۱۳۳ ) د نري رنځ شکمن ناروغان ترلاسه شوي او د درملنې لپاره روغتیایي مراکزو ته لیږل شوي دي.

۱۱. په جنوب زون کې د دوه لکه اته پنځوس زره یو سل اویا (۲۵۸۱۷۰ ) کوچیانو لپاره هراړخیز خدمتونه لکه: د واکسین، تغذیې، عامه پوهاوي، رواني،داخل بستر او د زیږون اړوند خدمات برابر شوي دي.

۱۲. د هېواد په مرکز او ۱۳ ولایتونو (کابل، کنړ، هلمند، پکتیا، بدخشان، پکتیکا، غور، خوست، سرپل، هلمند پکتیا، لوګر، ننګرهار، غزني، بامیان، نورستان، بدخشان ولایتونو کې د پنځه زره درې سوه اته اویا (۵۳۷۸ )ناروغانو د سترګو جراحي عملیاتونه ترسره کول .

۱۳. د ۶۸۳۱ معلولینو لپاره د روغتیایي خدماتو وړاندې کول، د فزیکي ځواکمنتیا تجهیزات برابرول او په هېواد کې د مصنوعي اعضاوو د تولید لپاره د ۸ بنسټیزو ماشینونو کار پیلول د یادونې وړ دي.

۱۴. د هېواد په ۱۵ ولایتونو کې د نهه ویشت زره دوه سوه نهه اویا (۲۹۲۷۹) کسانو لپاره د مرکزونو له لارې د اچ اي وي، جنسي انتقالي ناروغیو او هیپاټایټس د مخنیوي، تشخیص او درملنې خدمتونه وړاندې شوي دي

۱۵. د شپږ سوه اته ویشت زره درې اتیا (۶۲۸۸۳) تنه په شدیدې حادې خوارځواکۍ اخته ماشومانو درملنه چې عمرونه یې د ۶-۵۹ میاشتو تر منځ دي

۱۶. د شپږ څلویښت زره اته سوه څلور پنځوس (۴۶۸۵۴) تنه په حادې خوارځواکۍ اخته میرمنو درملنه ترسره شوې.

۱۷. په روغتیایي مرکزونو کې د نري رنځ د حساسو او د درملو پر وړاندې د مقاوم توبرکلوز پنځه پنځوس زره (۵۵۰۰۰) واقعاتو تشخیص او درملنه شوې ده.

۱۸. د هیواد روغتونونو ته د اته پایو ایکسري ماشینونو ویشل او د هیواد په سرحدي نقطو کې د نري رنځ ناروغانو د تشخیص او درملنې لپاره د ایکسري ماشینونو نصب کول.

۱۹. د واکسین د پوښښ کچه له ۶۵٪ څخه تر ۸۰٪ پورې لوړول.

۲۰. د اته میلونه پنځه سوه نهه نوي زره اوه سوه پنځوس (۸۵۹۹۷۵۰ ) تنو ماشومانو او میرمنو لپاره د بیلا بیلو واکسینونو تطبیق کول

۲۱. بیت الله شریف ته د تلونکو حاجیانو لپاره د پولیو او منتجایټس واکسین تطبیق.

۲۲. د یوویشت میلونه پنځلس زره درې سوه دوه څلویښت (۲۱۰۱۵۳۴۲) افغانیو په ارزښت د مرکز او ولایتونو د روغتیایي مرکزونو لپاره د درملو او طبي وسایلو پیرودل

۲۳. په ټول هیواد کې د اوه سوه نهه نوي زره نهه سوه اته څلویښت ( ۷۹۹,۹۴۸ ) کورنیو لپاره د کورنیو لیدنو له لارې شاوخوا اته سوه څلور دیرش زره نهه سوه اته دیرش( ۸۳۴,۹۳۸ )روغتیایي پرمختګ توکي ویشل شوي.

# نظارت، ارزونه او روغتیایي معلومات



۱.د هیواد په کچه د خلکو لپاره د غوره روغتیایي خدماتو وړاندې کولو د کیفیت د ځارنې  او کنټرول په موخه د دولتي او خصوصي سکتور څخه ۱۵۵۸۰ نظارتونه او ارزونې تر سره شوي دي چې په دې کې روغتیایي مراکز ، نړیوالې موازي پروژې د تطبیق کوونکو موسساتو له لوري روغتیایي خدمات شامل دي.
۲.د اعتبار ورکولو لپاره په ۱۷ ولایتونو کې د ۱۳٦ خصوصي روغتیایي مرکزونو څخه لیدنه او قانوني مراحل تر سره شوي دي.
۳.په دولتي او خصوصي روغتیایي مرکزونو کې د غلطیو او روغتیایي قضیو ۲۱٦  یې څېړل او ٦۱۷ رسمي سپارښتنې کول.
۴.د ښباک د اوبو د ۱۸۸ سرچینو د خوندیتوب ډاډمن کول، په شمول: ۲۲ د یخ فابریکې، ۴ د بوتلونو اوبو فابریکې، ۱۲ خصوصي د اوبو او خوراکي توکو رسولو شبکې، او دوه دولتي روغتونونه.





## کلینکي معاینات

کېدای شي چې یو زیات شمېر سونوګرافي یا (انومالي) د تاریخچې او فزیکي معایناتو په وسیله تشخیص شي. راډیولوژیکي معاینات اکثرأ کلینیکي شکونه روښانه کوي. د ماشوم ګېډه باید په دقیق ډول د پښتورګو د کتلاتو او Expressible مثانې د شته والي په خاطر معاینه شي. همدارنګه د عجان ناحیه باید په دقیق ډول تفتیش شي او د معقدي ناحیې حساسیت او معقدي مقویت ارزیابي شي.

## د بولي سیستم د انتاناتو خارنه

په هغه ماشوم کې چې Toxic نه وي، دا معقوله ده چې انتي بیوتیک له پیل نه مخکې له ادرارو یو نمونه د کلچر لپاره ولیږل شي. په هغه ماشوم کې چې ښه روغتیایي وضع نه لري Supra-Pubic aspiration اجرا او ماشوم ته یو وسیع الساحه انتي بیوتیک، تر هغه وخته چې د کلچر نتیجه په لاس راشي ورکول کېږي. دا به ښه وي چې دا ډول ماشومان په روغتون کې بستر شي. هر هغه ماشوم چې له یو کال څخه ښکته عمر ولري او په T.U.A اخته وي کیدای شي چې پیلونفریت ولري او دا ډول ماشومان باید د داخل وریدي انتي بیوتیک په وسیله تر درملنې لاندې ونیول شي.

## وقـــــایـــــه:

- د ماشومانو پاک ساتل.
- په کافي اندازه د مایعاتو اخیستل.
- د ناروغۍ په وخت کې د ماشومانو متخصص سره مشوره کول.
- د ماشومانو د ادرارو کولو منظم والي دې په نظر کې ونیول شي یعنې هر دوه نه تر څلور ساعتونو کې ادرار کوي او که نه؟
- د غذا بیلانس ته پاملرنه او په کافي اندازه د معایاتو اخیستنه.
- آیا ماشوم په اسانۍ سره خپل ادرار تخلیه کولي شي.
- فلهذا د ماشوم پاک ساتل، د بیلانس خوړو ورکول ،د روحي فشارونو څخه لرې ساتل او د ناروغۍ په وخت د ماشومانو متخصص سره مشوره کول؛ دا ټول هغه څه دي چې د ناروغیو په مخنیوي کې مرسته کولای شي.

# ماشومانو کې د ادرارو انتانات (Urinary Tract infection)

## صحت طفل

په ماشومانو کې د بولي سیستم انتانات معمولاً په غلط ډول تعبیر کېږي. د ادرارو سوزش (Dysuria) او د خړو (Cloudy) ادرارو راتلل چې له تبې سره یو ځای وي معمولاً د بولي سیستم په انتاناتو دلالت نکوي. له بلې خوا ګڼ شمېر ماشومان چې د بولي سیستم په انتاناتو اخته وي کوم اعراض نه لري او یا په داسې تبې اخته وي چې علت یې نه وي معلوم او دا چې کانګې لري او وده نه کوي، دا ډول ناروغانو کې کېداي شي چې تشخیص له نظره وغورځېږي.

## پتو جیني:

پښتورګي معولاً له دوو لارو څخه په انتاناتو اخته کېږي؛ لومړي دا چې انتانات د وینې له لارې ځان پښتورګو ته رسوي او دوهم دا چې پښتورګي په (Retrograde) ډول په انتاناتو اخته کېږي. یعني انتانات له مثانې څخه حالبونو او له حالبونو څخه پښتورګو ته رسېږي. ډېرو تجربو او کلینیکي شواهدو ښودلې ده چې اکثراً انتانات په (Retrograde) ډول پښتورګو ته رسېږي.

## نښې نښانې:

د بولي سیستم انتانات بېلابېلې کلینیکي لوحې منځ ته راوړي لاندیني جدول دا ثابتوي چې U.T.I کېداي شي چې مبهم اعراض منځ ته راوړي. نو په هر هغه ماشوم کې چې روغتیایي وضعه یې ښه نه وي او علت یې معلوم نه وي، باید د بولي سیستم په انتاناتو مشکوک واوسي.

| ماشوم Older Children | کوچني ماشوم Infant |
|---|---|
| د ګېډې درد<br>Dysuria<br>تبه<br>Hematuria<br>Peyelonephritis<br>Dysfunctional voiding | Pyuria چې سرچینه یې معلومه نه وي.<br>Septicemia<br>ناآرامي او بې خوبي<br>Hematuria<br>کانګې<br>له ودې وروسته پاتې کېدل<br>د نوي زېږدلي ماشوم پرلپسې زیړي. |



# په یخچال کې د دغو توکو کېښودل روغتیا ته زیان رسوي!

په عام ډول خلک خپل خوراکي توکي ددې لپاره په یخچال کې ساتي څو ژر خرابه نه شي خو دغه کار په عامه توګه د ټولو خوراکي توکو لپاره ګټور نه دی. ځینې خوراکي توکي داسې دي چې د یخچال یخوالي پر ځای په نورمال درجه حرارت کې ښه ساتل کېږي او یخوالي یې د خرابوالي لامل ګرځي.



چاکلیټ　انار　پیاز　بانجان　خربوزه / خټکي

کچالو　رومیان　هوږه / سیر　قهوه/کافي　شهد / عسل

## خرما او روغتیا:



کجورې د ځانګړې غذایي ارزښت لرونکې دي او وچ ډول یې نظر تازه ته د زیاتې کالورۍ لرونکې دي. د کالوري له مخې کجورې هم لکه د ممیزو او انځرو یوشان دي.
خرما په زیاته اندازه د کاربوهایډریټ لرونکې دي. په سلو ګرامو کجورو کې په لاندې اندازې سره مغذي توکي شامل دي:
ټوله کالوري پکې ۲۷۷، ۷۵ ګرامه کاربوهایډریټ، ۷ ګرامه فایبر، ۲ ګرامه پروټین، ۲۰ سلنه پوټاشیم، ۱۴ سلنه مګنیزیم، همدارنګه منګانیز اوسپنه او ویټامین B شپږ هم پکې شامل دي. کجورې د زهریاتو ضد ځانګړنه لري. هغه غذایي توکي چې موږ او تاسو یې په مصرف رسوو په بدن ځینې زهري اغېزې هم لري د دې ټولو غذایي توکو د زهریاتو له منځه وړل ځیګر دنده ده، چې خرما هم له ځیګر سره په دغه دنده کې مرسته کوي. د وچو مېوو په ټولو ډولونو کې کجورې د زیاتې کالورۍ لرونکې دي چې په ورته وخت کې د قبضیت د مخنیوي لپاره تر ټولو ښه وچه مېوه ده، چې د دماغو په ځواکمنېدو کې مرسته کوي.

## انځر او روغتیا:

انځر او پاڼې یې خورا مغذي ارزښت، ملایم او خوږ خوند لري. انځر کولای شي چې د وینې د بورې اندازه اداره کړي او د زړه او رګونو د ناروغیو خطر کم کړي. څرنګه چې د وچو انځرو اوبه له منځه تللې وي نو ځکه په زیاته اندازه کالوري، بوره او مغذي توکي لري. ۱۴۹ ګرامه وچ انځر په لاندې اندازو سره انرژي او غذایي توکي لري:
۳۷۱ کالوري، ۹۵.۲ ګرامه کاربوهایډریټ، ۷۱.۴ ګرامه بوره، ۱۴،۶ ګرامه فایبر، ۴،۹ ګرامه پروټین، ۱،۴ ګرامه شحم، کلسیم، مګنیزیم، پوټاشیم، منګانیز، ویټامین K او ویټامین C لري.
هغه کسان چې په خپل غذایي رژیم کې له انځرو څخه کار اخلي د ځواکمنو هډوکو، مناسب وزن، روغ پوستکي او ویښتو اوځواکمنې حافظې لرونکې دي.



# لوګر، پکتیا او خوست ولایتونو ته د عامې روغتیا وزیر سفر




د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ولایتي سفرونو په لړ کې، چې موخه یې په لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو ارزونه، د یو شمېر بشپړو شویو روغتیایي پروژو پرانیسته او د روغتیا په برخه کې د هېوادوالو غوښتنو ته رسېدنه ده، دا ځل لوګر، پکتیا او خوست ولایتونو ته سفر ترسره کړ. په دې سفر کې د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په لوګر ولایت کې د نایب امین الله خان او لوګر ولایتي روغتون د خدمتونو بهیر څخه د نږدې لیدنې سربېره په دې ولایت کې د روغتیایي مسؤلینو سره هم ولیدل، د روغتیا په برخه کې یې د هغوی وړاندیزونه واورېدل او د شته ستونزو د بشپړ حل ډاډ یې ورکړ.

ښاغلي وزیر همداراز د یاد سفر په لړ کې د پکتیا سیمه ییز روغتون، سید کرم او ځاځي اریوب ولسوالۍ له یو شمېر روغتیایي مراکزو د نږدې لیدنې ترڅنګ د دې ولایت د والي په شتون کې له روغتیایي مسؤلینو سره د پکتیا اوسېدونکو لپاره د روغتیایي خدمتونو برابرېدو، د سیمه ییز روغتون اکمال او په لرې پرتو او سپینو سیمو کې د روغتیایي مرکزونو جوړېدو اړوند خبرې ترسره کړې. نوموړي همداراز په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې د شهید حبیب الرحمن په نوم روغتون ، چې د نږدې ٥٦ میلیونه افغانیو په لګښت د یو افغان حاجي سلیمان صالح د کورنۍ له لوري جوړ شوی و، پرانیست او دا کړنه یې په سیمه کې د ولسونو د هوساینې لپاره یو ستر نوښت، اړین ګام او د روغتیا په برخه کې یې د بدلون زېري وباله، چې په مرسته به یې د ولسونو لپاره په ښې ساري توګه روغتیایي خدمات وړاندې شي.

ښاغلي وزیر، تر لوګر او پکتیا ولایتونو وروسته خوست ولایت ته ولاړ او هلته یې د خوست ولایتي روغتون څخه لیدنه ترسره کړه او هم یې په دغه روغتون کې د روغتیایي کارکوونکو سره ولیدل، دهغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېده او د حل ډاډ یې ورکړ.

ښاغلي وزیر په دې روغتون کې د اکمال تخصص برنامې پیاوړې کېدل، او د ټرینرانو او ټریني متخصصینو لپاره د یو مناسب چاپېریال رامنځته کول اړین یاد کړل او په دې برخه کې یې د بشپړې پاملرنې ډاډ ورکړ.

نوموړي همداراز د یاد روغتون د تشکیل زیاتوالي، روغتیایي خدمتونو پراخېدو او د طبي تجهیزاتو برابرېدو لپاره په دې ولایت کې د تطبیق کوونکو مؤسسو استازو ته لازمې سپارښتنې وکړې؛ څو په دې برخه کې اړین اقدامات ترسره کړي.

# غزني ولایت ته د عامې روغتیا وزیر سفر

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او ورسره مل پلاوي غزني ولایت ته سفر وکړ او هلته یې د دغه ولایت والي حافظ محمد امین عمري سره ناسته ترسره کړه.

په دغه ناسته کې چې د غزني مرستیال والي او عامې روغتیا رییس محمد زرک ځیرک هم شتون درلود، د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په مشرۍ یاد پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ په دې ولایت کې د نویو روغتونونو جوړولو، لویو لارو کې د ترافیکي پېښو لپاره د درملو او لوازمو برابرولو او د روغتیایي کارکوونکو د تشکیل ډیرېدو غوښتنه وکړه.

په یاده ناسته کې ښاغلي وزیر، غزني ولایت ته د خپل سفر موخه چې په یاد ولایت کې د روغتیایي خدمتونو ارزول دي شریکه او ژمنه یې وکړه چې امکاناتو ته په کتو سره به یادو شویو غوښتنو ته رسېدګي وکړي.

له هغه وروسته یاد پلاوي غزني ولایت ته د سفر په لړ کې د دغه ولایت عامې روغتیا ریاست کې د شاوخوا ( ۳۵۰ ) زره امریکایي ډالرو په ارزښت د امبولانس خدماتو فعالیدو پرانیسته وکړه.

ښاغلي وزیر، په غزني ولایت کې د امبولانس خدماتو پیل د روغتیایي خدماتو د پراختیا لپاره مهم وبلل او زیاته یې کړه چې له دې وروسته به د دغو ( ۷ )عرادې امبولانسونو پرمټ د لویو لارو  ترافیکي پېښو او نورو بېړنیو حالاتو  ته په وخت رسېدګي کېږي.

دغه راز عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي د  غزني ولایت سیمه ییز  روغتون کې د هیمو ډیالیز څانګې پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د غزني والي حافظ محمد امین عمري، د عامې روغتیا رییس محمد زرک ځیرک او د دې ولایت د یو شمېر نورو ادارو مسؤلینو ګډون کړی و.

یاده څانګه د عامې روغتیا وزارت له لوري د شاوخوا پنځه میلیونه افغانیو په لګښت د غزني ولایت  سیمه ییز روغتون کې فعاله شوه ، چې درې مجهز عصري ماشینونه  او نور اړین  تجهیزات لري.

ښاغلي وزیر، د غزني ولایت په سیمه ییز روغتون کې د هیموډیالیز څانګې فعالېدل د پښتورګو ناروغانو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کېدو او درملنې برخه کې یو مثبت او اغېزمن ګام وباله او همدا راز  یې د  روغتیایي خدمتونو د پراختیا او معیاري کولو برخه کې د عامې روغتیا وزارت د ژمنتیا ډاډ ورکړ او له روغتیایي کارکوونکو یې  وغوښتل، چې روغتیایي خدمتونه په پوره ژمنتیا،ښه نیت او اخلاص ترسره کړي.له هغه وروسته ښاغلي وزیر، د غزني  ولایت د سیمه ییز روغتون له نوې جوړېدونکې ودانۍ څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې چې د غزني عامې روغتیا رییس او یو شمیر نورو مسؤلینو یې ملتیا کوله د سیمه ییز روغتون  بېلابېلې برخې له نږدې ولیدې.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یادې لیدنې پرمهال مسئولینو ته سپارښتنه وکړه چې د یاد روغتون د پاتې چارو، چې شاوخوا  ۹۰ سلنه یې بشپړې او لس سلنه پاتې دي  ژر پاي ته ورسوي.

ښاغلي وزیر، ورته مهال د سیمه ییز روغتون له روغتیایي خدمتونو هم لیدنه وکړه. په دغه لیدنه کې چې د غزني  عامې روغتیا رییس محمد زرک ځیرک ، او نورو مسئولینو یې ملتیا کوله د سیمه ییز روغتون بېلابېلو برخو څخه لیدنه ترسره او هم یې د بستر ناروغانو احوال واخیست.

ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په یاده لیدنه کې د روغتون مسئولینو او روغتیایي کارکوونکو د ستونزو  او وړاندیزونو تر اورېدو وروسته یې د یو شمېر ستونزو د ژر حل ډاډ ورکړ او د روغتیایي خدمتونو ښه والي په موخه یې ورته لازمې سپارښتنې وکړې.

تر هغه وروسته د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د غزني ولایتي  روغتون څخه لیدنه وکړه.

ښاغلي وزیر، په یاده لیدنه کې د روغتون مسئولینو او روغتیایي کارکوونکو ته د روغتیایي خدمتونو ښه والي په موخه  لازمې سپارښتنې وکړې.

# خوست ولایت ته د رهبرۍ سفر!

د ۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزارت روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني خوست ولایت ته د سفر پرمهال دې ولایت کې د نږدې اووه میلیونه افغانیو په ارزښت د څلورو نیمه پاتې روغتیايي مرکزونو د رغنیزو چارو پرانیسته ترسره کړه.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني وویل:(د امیرالمؤمنین حفظه الله په ځانګړې لورینې ټول هېواد کې ۱۷۴ نیمه پاتې روغتیايي پروژو لپاره ۴ میلیارده ۵۵۶ میلیونه افغانۍ بودیجه ځانګړې شوې، چې عملي چارې یې له خوست ولایت څخه پیل شوې).

ښاغلي مرستیال زیاته کړه، د دغو نیمه پاتې پروژو څخه به یې څلور په خوست او پنځه په ننګرهار کې د روان کال تر پای بشپړې شي او پاتې نورې به یې په راتلونکو دوو کلونو کې پای ته ورسېږي.

د یادو روغتیايي مرکزونو د رغنیزو چارو له تکمیلېدو وروسته ورته طبي وسایل او مسلکي پرسونل په پام کې نیول شوي چې ورسره به ټول هېواد کې روغتیايي خدمات لا پراخ او د خلکو د لاس رسي کچه به زیات شي.

## پکتیکا ولایت ته د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال سفر!

د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني پکتیکا ولایت ته د سفر پرمهال له ولایتي روغتون څخه لیدنه ترسره کړه.

د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د پکتیکا ولایتي روغتون له خدماتو څخه د لیدنې ترڅنګ په دغه روغتون کې د بستر ناروغانو احوال واخیست او هغوی ته یې د روغتیا هیله څرګنده کړه.

نوموړي دغه راز د یاد روغتون له روغتیايي کارکوونکو سره د ستونزو د حل په موخه ناسته ترسره کړه، چې د روغتیايي کارکوونکو ورسره د روغتیا په برخه کې د یو شمېر ستونزو د حل په موخه خپل وړاندیزونه شریک کړل.

د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال د یاد روغتون د پرسونل غوښتنې واورېدې او په دې برخه کې یې د ځانګړې پاملرنې ډاډ ورکړ.

# زابل ولایت

## ته د اداري او مالي چارو مرستیال سفر!

د زابل ولایت په مرکز قلات ښار کې د (۳۰۰) زره امریکایي ډالرو په لګښت یو عمومي (GH)روغتون جوړ او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

په همدې موخه جوړو شوو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ملا بخت الرحمن شرافت،د زابل مرستیال والي مولوي محب الله حماس، عامې روغتیا رییس ډاکټر میرویس افغان او نورو مسوولینو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري مرستیال ملا بخت الرحمن شرافت وویل: دغه روغتون د یاد ولایت مرکز اړوند باباګګ سیمه کې د کډوالو عالي کمیشنرۍ (UNHCR)په مالي ملاتړ(۲۶۴۰) متره مربع ځمکه کې جوړ چې له مخې به یې څه باندې (۲۵۰) زره کسان له روغتیایي خدمتونو برخمن شي.



عامې روغتیا وزارت له لوري زابل ولایتي روغتون کې د نږدې نولس میلیونه افغانیو په ارزښت تعمیر پاتې چارې پیل شوې.

په همدې موخه جوړو شوو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي ملا بخت الرحمن شرافت د زابل مرستیال والي مولوي محب الله حماس، د عامې روغتیا رئیس ډاکټر میرویس افغان، د بېلابېلو ادارو مسؤلینو او روغتیاپالانو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي ملا بخت الرحمن شرافت وویل: د یاد روغتون تعمیراتي چارو بشپړېدو سره به زابل ولایت کې روغتیایي خدمات معیاري او شته ستونزې به ورسره حل شي.



# کتلوي معافیت لپاره د نوې ودانۍ جوړېدل!



د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت له لوري په مرکز کابل کې د دوه میلیونه ډالرو په لګښت د کتلوي معافیت ودانۍ جوړه او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت مرکزي رئیسانو، د روغتیا په برخه کې د همکارو مؤسسو استازو او روغتیا پالانو شتون درلود.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یادې ودانۍ په پرانیستې خوښي څرګنده کړه او ویې ویل، په دې وروستیو کې د عامې روغتیا وزارت له لوري د واکسینو خدمات لا ښه شوي او یادو خدماتو ته د ولسونو لاس رسي زیات شوي، چې له امله یې د ماشومانو په مړینه کې هم د پخوا په پرتله د پام وړ کموالي راغلی.

ښاغلي وزیر زیاته کړه، د عامې روغتیا وزارت په پلان کې لري، چې د واکسین خدماتو سربېره د ولسوالیو سطحې روغتونونو جوړېدو، د BPHS او EPHS خدماتو ته له سره کتنې، روغتیايي پرسونل د ظرفیت لوړولو او په بېلا بېلو روغتیايي برخو کې د متخصصینو د روزلو پر مټ روغتیايي خدمات لا پراخه کړي؛ څو د هېواد ټول وګړي وکولای شي په اسانۍ سره روغتیايي خدماتو ته لاس رسي پیدا او غوره درملنه یې وشي. د یادې غونډې په دوام د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني هم د یادې ودانۍ پر پرانیستې، چې د یونیسیف او ګاوي په مالي همکارۍ په پنځه پوړیز ډول د دوه میلیونه ډالرو په لګښت جوړه شوې او پر ټولو اړینو او مجهزو روغتیايي تجهیزاتو سمبال، چې په روغتیايي برخه کې به ګڼې اسانتیاوې رامنځته کړي، خوښي څرګنده کړه.

بل لور د یونیسیف استازي وویل، د یاد تعمیر سربېره یې په ننګرهار او په پکتیا ولایتونو کې ورته ودانۍ جوړې کړي او اوسمهال هم په څلور نورو ولایتونو کې د کتلوي معافیت ودانیو د جوړېدو چارې روانې دي، چې له جوړېدو وروسته به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.





## کندوز ولایت د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني سفر!

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني له لوري کندز ولایت ته د سفر په ترځ کې د یاد ولایت په حوزوي روغتون کې د کتلوي معافیت حوزوي تعمیر او د ریفرینس تشخیصیه لابراتوار پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

## د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ سره مهمې ناستې او لیدنې!

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د اقتصاد وزیر ښاغلي قاري دین محمد حنیف سره د چارو د لا ښې همغږۍ اړوند مجلس تر سره کړ.

په یاد مجلس کې چې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو پخواني مرستیال ښاغلي مولوي محمد اسحاق صاحبزاده هم شتون درلود ، د دواړو له لوري د روغتیا په برخه کې د تطبیق کوونکو مؤسساتو د چارو پر څرنګوالي، مؤثریت، د روغتیا په برخه کې د بهرنیو مرستو په مدیریت او د اداري مراحلو پر اسانتیا خبرې تر سره کړې.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د UNDP سازمان له مشر ښاغلي سټیفن روډریک او مل پلاوي سره وکتل.

په دې کتنه کې د هېواد روغتیایي مرکزونو لپاره د سولري برېښنا سیستم جوړولو، ملاریا، توبرکلوز او ایچ آی وي (ایډز) ناروغیو د مخنیوي او روغتیایي خدماتو اړوند بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یاد سازمان له همکارۍ په مننې د لرې پرتو سیمو اوسېدونکو لپاره روغتیایي خدمتونو برابرولو، د روغتیایي مرکزونو لپاره د سولري برېښنا سیستم جوړولو او د ساري ناروغیو په کنټرول کې د یاد سازمان همکاري اړینه وبلله او د لنډ مهاله پروژو پر ځای یې د دوامداره او با ثباته خدماتو پر شتون ټینګار وکړ.له بل لوري د UNDP سازمان مشر پر خپلو دوامداره همکاریو په ترسره کېدو د همکاریو ډاډ څرګند کړ.





د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د یونیسیف اداري له مشر، ښاغلي ډاکټر تاج الدین اویلا او مل پلاوي سره لیدنه ترسره کړه
په دې لیدنه کې چې یو شمېر ولایتي رئیسانو هم شتون درلود د تطبیق کوونکو مؤسسو د خدماتو پر ارزونې، د روغتیایي خدماتو د کیفیت پر ښه والي، روغتونونو ته پر ټاکلي وخت د درملو رسولو او د افغانستان روغتیایي سیستم د پیاوړتیا اړوند بحث او خبرې ترسره شوې.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د جاپان له سفیر کورومیا تاکایوشي سره لیدنه ترسره کړه:
په دې لیدنه کې په روغتیایي برخه کې د جاپان هېواد د ونډې او د دواړو هېوادونو ترمنځ په روغتیایي برخه کې د لا دوامداره همکاریو په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.
ښاغلي وزیر مولوي نور جلال جلالي د ساري ناروغیو د درملنې ، د روغتیایي پرسونل د ارتقاء ظرفیت ، په روغتیایي خدماتو کې د شفافیت ، په لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي مراکزو جوړولو ، د جاپان هیواد د مرستو او دوامدارې همغږۍ اړوند وینا تر سره کړه ، چې په ذکر شویو برخو کې یې د جاپان هیواد همکاري اړینه وګڼله.
د جاپان هېواد سفیر په روغتیایي برخه کې د ګډ کار او پر دوامداره همکارۍ خوښي څرګنده کړه او و یې ویل د تیر په څیر به خپلو همکاریو ته لا ادامه ورکوي او د روغتیا سکتور سره به تلپاتې همکار اوسي.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د چین له سفیر، ژاو شېنګ سره لیدنه ترسره کړه. په یاده لیدنه کې د افغان روغتیایي پرسونل د ظرفیت لوړونې، د هغه روغتیایي مراکزو هر اړخیز ملاتړ چې د چین هیواد له لوري جوړ شوي ، په روغتیایي برخه کې د پانګې اچونې او د ساري ناروغیو د کنټرول او مخنیوي په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د افغانستان او چین هېواد ترمنځ اړیکې اړینې وبللې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د روغتیا په برخه کې د هر اړخیزې همغږۍ او همکارۍ غوښتونکي شو چې په توسط به یې د دواړو هیوادونو د روغتیا په برخه کې همکاري او همغږي لا پراخه او غښتلې شي.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په افغانستان کې د خوړو نړیوال سازمان له مشرې اغلې شاویلي سره د سوء تغذیې ماشومانو او میندو لپاره د روغتیایي خدماتو پر پراختیا او د تغذیې اړوند ورته نورو حمایوي پروژو د تطبیق او څرنګوالي اړوند لیدنه تر سره کړه.ښاغلي وزیر د یاد سازمان د هڅو د قدرداني تر څنګ د لا دوامدارې همکارۍ او خدماتو د پراختیا غوښتونکي شو تر څو د سوء تغذیې ناروغانو لپاره لا پراخ او معیاري روغتیایي خدمات وړاندې شي.

## هماهنگي در وضعيت‌هاي اضطراري

محترم داکتر محمد حسن غياثي معين پاليسي وانکشاف صحت وزارت صحت‌عامه، در نشستي با داکترعبدالغني متقي سر طبيب قول اردوي هوايي وزارت دفاع به خاطر رسيده گي به وضعيت صحي بيماران در واقعات عاجل در حالات اظطرار و هماهنگي بيشتر بين اين دو وزارت در دفتر کارش ديدار و گفتگو کرد.

محترم داکتر محمد حسن غياثي معين پاليسي وانکشاف صحت وزارت صحت‌عامه، در نشستي با داکترعبدالغني متقي سر طبيب قول اردوي هوايي وزارت دفاع به خاطر رسيده گي به وضعيت صحي بيماران در واقعات عاجل در حالات اظطرار و هماهنگي بيشتر بين اين دو وزارت در دفتر کارش ديدار و گفتگو کرد.

همچنان در اين نشست تاکيد شد تا کميته تخنيکي ميان دوطرف ايجاد شود که روي يک طرح جامع به خاطر ايجاد يک سيستم منظم امبولانس هاي هوايي کار نمايند تا بعد اين طرح با رهبري امارات اسلامي و شرکايي صحي بين المللي شريک گرديده و بعد از تاييد به اجرا گذاشته شود.

## بعد از ۸ سال وقفه، دوباره رتبه هاي برنامه تخصص اغاز گرديد!

محترم مولوي محمد اسحق صاحبزاده معين اسبق مالي و اداري وزارت صحت‌عامه، در نشستي با اعضاي شوراي متخصصين در مورد ايجاد، وظايف و صلاحيت هاي اين شورا ديدار و گفتگو کرد.

محترم معين مالي واداري ايجاد شوراي متخصصين را به خاطر بهبود، تطبيق برنامه‌ها و تقويت برنامه تخصص در کشور موثر دانسته و از اشتراک کننده گان خواست تا در اين راستا با وزارت صحت‌عامه همکاري همه جانبه نمايند.

همچنان محترم مولوي محمد اسحق صاحبزاده معين اسبق مالي و اداري، متخصصين افغان را کدرهاي ورزيده اين کشور دانسته گفت: رهبري امارت اسلامي افغانستان و وزار صحت‌عامه به شما احترام و اعتماد دارد و ما از شما مي‌خواهيم تا به طور صادقانه و اخلاص کامل مصدر خدمت به همو طنان گرامي مان باشيد.

علاوه بر آن داکتر محمد حيدر عمر رييس عمومي اکمال تخصص وزارت صحت‌عامه، در مورد کارکردهاي و پيشرفت هاي بوجود آمده در اين رياست در پرزنتيشني به اشتراک کننده گان نيز معلومات ارايه نمود.

در ادامه عبدالنصير قاضي مدير اداري رياست عمومي اکمال تخصص، در پرزنتيشن لايحه وظايف، صلاحيت‌ها و مسوولايت هاي شوراي متخصصين را نظر به قانون تشريح نموده تا بعداً مطابق آن اجراآتي که در نظر است صورت گيرد.



# د تخصص برنامې څخه د سلګونه متخصصينو فراغت

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزارت اړوند، د تخصص برنامې له (۲۷) تخصصي څانګو څخه نږدې د ۴۸۳ تنو متخصصينو فراغت غونډه د يو لړ مراسمو په ترځ کې ترسره شوه.

په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء عالي مقام اداري مرستيال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي، سياسي مرستيال ښاغلي مولوي عبدالکبير، د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د عامې روغتيا وزات مرستيالانو، د لوړو زده کړو وزير شيخ الحديث مولوي ندا محمد نديم، د کورنيو چارو وزارت لومړي مرستيال ښاغلي مولوي محمد نبي عمري، د کابل والي ښاغلي ملا امين الله عبيد، د ازموينو ملي اداري مشر ښاغلي شيخ الحديث مولوي عبدالباقي حقاني او د يو شمېر نورو امارتي ادارو مسؤلينو او استازوګډون کړي و.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د تخصص برنامې څخه فارغ شويو متخصصينو او د هغوی کورنيو ته د مبارکۍ ويلو سربېره په روان کال کې په دومره ستره کچه متخصصينو فراغت د هېواد روغتيايي سکتور د پياوړتيا په برخه کې يو ستر وياړ وباله او ويې ويل: ( موږ ژمن يو، چې په تخصصي برخه کې په خپلو هڅو سره ياده برنامه لا غني او په کور دننه د متخصصينو د روزلو برسېره په بهرنيو هېوادونو کې هم دوی ته د زده کړو زمينه برابره کړو؛ څو وکولای شو په کور دننه يو پياوړي روغتيايي سيستم رامنځته کړو.)

د يادې غونډې په دوام د رياست الوزراء عالي مقام اداري مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي هم فارغ شويو متخصصينو او د هغوی کورنيو ته مبارکي ووېله، ځوانان يې لا زده کړو ته وهڅول او تازه فارغ شويو ته يې په روغتيايي برخه کې د پرمختګونو په اړه لازمي سپارښتنې ترسره کړې.

له بل لوري د رياست الوزراء عالي مقام سياسي مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالکبير په خپلو لاسونو د فارغ شويو متخصصينو له ډلې څخه په بېلا بېلو روغتيايي برخو کې (۱۹) تنو ممتازو (د لومړي مقام ګټونکو متخصصينو ته) ځانګړې ډالۍ ورکړې او هغوی يې په روغتيايي برخه کې لا زده کړو ته وهڅول.

محفل فراغت نزديک به ۴۸۳تن از متخصصين از (۲۷) بخش تخصصي رياست اکمال تخصص وزارت صحت‌عامه امارت اسلامي افغانستان در يک نشست ويژه اي راه اندازي شد.

در نشستي که به اين مناسبت راه اندازي شد، محترم مولوي عبدالسلام حنفي معاون اداري رياست الوزراء امارت اسلامي افغانستان، محترم مولوي عبدالکبير معاون سياسي، محترم مولوي نور جلال جلالي وزير صحت‌عامه، معينان وزارت صحت عامه، شيخ الحديث مولوي ندا محمد نديم وزير تحصيلات عالي، محترم مولوي محمد نبي عمري معين اول وزارت داخله، محترم ملا امين الله عبيد والي کابل، محترم شيخ الحديث مولوي عبدالباقي حقاني رئيس اداره ملي امتحانات، مقامات و نماينده گان تعدادي ديگر از ادارات امارت اسلامي حضور داشتند.

محترم مولوي نورجلال جلالي وزير صحت‌عامه، ضمن تبريکي به متخصصين فارغ التحصيل از برنامه تخصص و خانواده هاي آنان، فراغت اين تعداد از متخصصين را در سال جاري افتخار بزرگي به خاطر تقويت سکتور صحي کشور خوانده گفت: "ما متعهد هستيم که با تلاش در زمينه تخصصي اين برنامه را غني نماييم و علاوه بر تربيت نيروي متخصص در داخل، زمينه تحصيل در کشورهاي خارجي را نيز براي آنان فراهم نماييم تا يک سيستم صحي قوي را به ميان آوريم."

در ادامه اين نشست، محترم مولوي عبدالسلام حنفي معاون اداري رياست الوزراء نيز ضمن تبريک گفتن به متخصصين فارغ التحصيل و خانواده هاي آنان، جوانان را به ادامه تحصيل تشويق نموده و براي فارغ التحصيلان جديد در بخش صحي هدايات لازم ارايه نمود.

از سوي‌هم، محترم مولوي عبدالکبير معاون سياسي رياست الوزراء، به ۱۹ تن از متخصصين ممتاز (برنده مقام اول) که فارغ التحصيل رشته هاي مختلف صحي تخصصي بودند، تحفه هاي ويژه اهدا نموده و آنان را تشويق به آموزش هاي بيشتر در بخش صحي نمود.

# د عامې روغتيا وزير بهرني سفرونه

## سويس هېواد ته د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي سفر!

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نورجلال جلالي د روغتيا په برخه کې د پرمختګونو، اصلاحاتو او د نړيوالو اداراتو له وزارت سره د ښې همغږۍ په موخه له مل پلاوي سره سويس هيواد ته سفر تر سره کړ:

ښاغلي وزير د دې سفر پر مهال د روغتيا نړيوال سازمان له عمومي مشر ډاکټر ټيډروس او ورسره مل پلاوي سره د ليدنې سربېره د بيلا بيلو نړيوالو ادارو په مجالسو کې ګډون تر سره او د روغتيا په برخه کې د همکارو اداراتو له عمومي مسؤولينو سره يې په افغانستان کې د ساري ناروغيو پر کنټرول، د پوليو ناروغۍ محوه کولو او د روغتيايي خدماتو پر پراختيا ، شفافيت او لا معيار خبرې اترې تر سره کړې.

د ياد سفر پر مهال د نړيوالو اداراتو د مسؤولينو له لوري د روغتيا په برخه د دوامدارې همکارۍ تعهد څرګند او د لا همکارۍ ژمنه يې وکړه، د عامې روغتيا وزارت هڅه کوي تر څو د هيواد ټولو وګړو ته معياري او عادلانه روغتيايي خدمات وړاندې کړي چې په همدې موخه د خپلې داخلي بوديجې تر څنګ پر نړيواله کچه د روغتيايي خدماتو د معياري کولو هڅې يې ګړندۍ کړې دي.



## قطر هېواد ته د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي سفر!

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي قطر هېواد ته د سفر په ترڅ کې د ياد هېواد د بهرنيو چارو له وزيرې لوء لوء الخاطر سره وکتل، په دې کتنه کې چې په قطر هېواد کې د اسلامي امارت سفير، ښاغلي ډاکټر محمد نعيم وردګ يې هم ملتيا کوله د افغانستان روغتيايي سيستم د پياوړتيا، د روغتيا په برخه کې د افغانستان اوسېدونکو ته د نړيوالو مرستو لپاره د لارو چارو، دواړو لوريو ترمنځ د اړيکو پر پراختيا او په روغتيايي برخه کې د قطر هېواد د همکارۍ اړوند بحث او خبرې ترسره شوې، چې د ياد هېواد د بهرنيو چارو وزيرې او روغتيايي مسؤلينو له لوري د همکارۍ ډاډ ورکړل شو.



# چین هیواد ته د عامې روغتیا وزیر سفر!




د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي چین هېواد ته د خپل رسمي سفر په لړ کې د سنتي طب نړیوال کنفرانس کې ګډونوالو ته خپله وینا ترسره کړه په دې کنفرانس کې چې موخه یې د سنتي طب برخه کې د تجربو او لاسته راوړنو شریکول و، د بېلا بېلو هېوادونو د روغتیا وزیرانو، مرستیالانو، څېړونکو او د یو شمېر مؤسسو استازوګډون درلود.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په سیمه کې د سنتي طب په برخه کې د روغتیا نړیوال او شنګهاي د همکاریو سازمانونو همکاري اړینه وبلله او ویې ویل: "په افغانستان کې باید د سنتي طب برخه معیاري او د عصري طبابت برخه وګرځي او د دې برخې علاقمندانو ته معیاري تدریسي کریکولم جوړ شي".

د عامې روغتیا وزیر دغه راز د سنتي طبابت برخه کې د چین او افغانستان تر منځ په دوه اړخیزه همکارۍ ټینګار وکړ؛ ترڅو د ظرفیت جوړونې، تجاربو شریکولو او په دې برخه کې د شریکو څېړنو زمینه برابره شي.

د یادونې وړ ده، چې اوسمهال د عامې روغتیا وزارت په تشکیل کې د سنتي طب څانګه جوړه شوې چې د دې برخې طبیبانو د کارونو د اصلاح او ښه والي په موخه د پالیسیو او لارښودونو په جوړولو کار کوي.

## چین هېواد کې افغان سفیر سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي چین هېواد ته د سفر پرمهال په دې هېواد کې د افغانستان له سفیر ښاغلي بلال کریمي سره لیدنه ترسره کړه.

په دې لیدنه کې عامې روغتیا وزارت سره د چین هېواد د همکاریو، ظرفیت لوړونې او د روغتیایي وضعیت د پیاوړتیا اړوند خبرې وشوې. په چین کې د افغانستان سفیر ډاډ څرګند کړ چې د افغانستان روغتیایي برخې سره به د چین هېواد د مرستو جلب برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

## د چین ښار له یو روغتایي مرکز څخه لیدنه !

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي چین هېواد ته د رسمي سفر پرمهال په دې هېواد کې د بیجنګ ښار له یو روغتیایي مرکز څخه لیدنه تر سره کړه ، یاد مرکز چې د سنتي او عصري طبابت مدغم شوي شکل خدمات یې لرل له بېلا بېلو برخو او د خدماتو له نوعیت یې لیدنه تر سره شوه.

دا په داسې حال کې ده چې د عامې روغتیا وزیر چین هیواد ته د خپل سفر په ترڅ کې د یو شمیر روغتیایي مسؤولینو سره مجالس او روغتیایي مراکزو څخه لیدنې تر سره کړې دي.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي چین هېواد ته د سفر پر مهال د دې هېواد د ساري ناروغیو د کنټرول او مخنیوي له مرستیال سره لیدنه تر سره کړه

په دې لیدنه کې د ملاریا، نري رنځ، پولیو او نورو ورته ساري ناروغیو د کنټرول او مخنیوي، طبیعي پېښو ته ځواب ویلو، د روغتیایي وضیعت ښه مدیریت، د ناروغیو د سرویلانس او په دې برخه کې د افغانستان عامې روغتیا وزارت د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې، او روغتیایي برخه کې د همکاریو په پراختیا خبرې وشوې.

د عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نورجلال جلالي دغه راز د چین د ساري ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز (CDC) او د دې هېواد د انفلوینزا ملي مرکز څخه هم لیدنې ترسره کړې.





# سعودي عربستان ته د عامې روغتیا وزیر سفر

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نورجلال جلالي د میکروب ضد درملو پر وړاندې مقاومت تر سرلیک لاندې د وزیرانو څلورمې ناسته کې د ګډون په موخه د سعودي هیواد جدې ښار ته سفر تر سره کړ.

ښاغلي وزیر به د دې سفر پر مهال د (Anti Microbial Resistance) اړوند د وزیرانو څلورمه ناسته کې ګډون وکړي، چې په جریان کې به یې د میکروب ضد درملو پر وړاندې د مقاومت کموالي ،مؤثرې استفادې او په ګډه د دې ننګونې څخه د وتلو په موخه بحث تر سره کیږي.

د عامې روغتیا وزارت هڅه کوي چې د هیواد ټولو وګړو ته معیاري، مؤثر او عادلانه روغتیایي خدمات وړاندې کړي چې په همدې موخه د خیړنو او علمي نظرونو سره مل په نړیواله کچه د روغتیایي خدماتو د معیاري کولو هڅې یې ګړندۍ کړې دي.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي سعودي هېواد ته د سفر په لړ کې د روغتیا نړیوال سازمان له عمومي مشر، ښاغلي ډاکټر ټیډروس سره لیدنه ترسره کړه. په دې لیدنه کې د روغتیا په برخه کې د لا زیاتو همکاریو په راجلبولو، د پولیو او ورته نورو ساري ناروغیو سره د مبارزې په غښتلتیا، د هېواد په سپینو سیمو کې د روغتیایي خدماتو برابرولو، په نړیوالو روغتیایي کنفرانسونو او ناستو کې د عامې روغتیا وزارت د استازو پرګډون او یو شمېر نورو اړینو موضوعاتو بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي د خپلې وینا پر مهال وویل: " د اسلامي امارت له واکمنېدو را پدېخوا مونږ هڅه کړې، چې له خپلو داخلي سرچینو د روغتیایي سیستم تمویل زیات او لا یې غښتلي کړو، هڅه کوو چې د ولسوالیو په کچه روغتیایي سیستم غښتلي کړو، په تدریجي ډول د روغتیا سکتور د ځان بسیاینې لور ته یوسو او هغه څه چې د ولسونو لپاره اړین دي تر سره کړو".



## د قطر هیواد له شارژدافیر ښاغلي دوکتور مردف القاشوطي سره لیدنه!

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي ملا بخت الرحمن شرافت د افغانستان لپاره د قطر هیواد له شارژدافیر ښاغلي دوکتور مردف القاشوطي سره لیدنه تر سره کړه.

په دې لیدنه کې د روغتیایي کارکوونکو پر ظرفیت لوړونه، د روغتیایي خدماتو د ښه والي په موخه د طبي تجهیزاتو تر لاسه کولو او د کندهار پر (۴۰۰) بستریز جوړېدونکي روغتون خبرې تر سره شوې.

ښاغلي معین د قطر هیواد د افغانستان له روغتیایي سیستم سره هر اړخیزه همکاري اړینه وګڼله او په دې برخه کې یې د تر سره شویو کړنو مننه وکړه، ښاغلي شرافت د هیواد د روغتیایي سیستم لپاره د افغانستان اسلامي امارت د ژمنتیا او او تعهد څرګندونه وکړه او په وینا یې په دې برخه کې د لا ښه والي هڅې جریان لري.

## په لومړي ځل د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو (General Hospital) جوړېدل!

د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري په لومړي ځل د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو ( (General Hospitalد جوړېدو په موخه بودیجه منظور شوه.

د عامې روغتیا وزارت په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په ځانګړي شفقت او مهربانۍ د لومړي ځل لپاره د اسلامي امارت له داخلي بودیجې څخه د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي یا جنرل روغتونونو د جوړېدو په موخه څه باندې شپږ میلیارده افغانۍ منظورې شوې.

د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي مال بخت الرحمن شرافت په شتون کې د یادو روغتونونو د جوړېدو په موخه د یوې شفافې پروسې له لارې تدارکاتي چارې پیل شوې، چې له مخې په لوګر، غزني او فراه والیتونو کې د پنځه روغتونونو د ساختماني چارو د پیل په موخه تدارکاتي پروسه ترسره او په نږدې راتلونکي کې به یې په عملي توګه د جوړېدو چارې پیل شي.

# روغتیایي خدمتونه او د عمومي (GH) روغتونونو موخې

د افغانستان روغتیایي سیستم د روغتیایي خدماتو تعریف شوې کڅوړې یا (۲۰۰۳- BPHS) او د روغتون خدماتو اساسي کڅوړې (۲۰۰۵- EPHS) په ټول هېواد کې خلکو ته د لومړنیو روغتیایي خدماتو او ثانوي روغتون پاملرنې په وړاندې کولو سره د پام وړ پرمختګ کړی دی په ځانګړې توګه د ولسوالۍ، ولایتي او سیمه ییزو کچو د ثانوي روغتونونو خدمتونه تر پوښښ لاندې راولي، د کورنیو سروې ګانو بشپړ معلومات د زېږون او ماشوم روغتیایي خدماتو پوښښ کې د پام وړ پرمختګ څرګندوي.

اوس مهال روغتیایي خدمتونه د (۴۱۷۵ EPHS/BPHS) روغتیایي مرکزونو، ملي روغتونونو او نورو روغتیایي مرکزونو له لارې د ملګرو ملتونو لخوا د ترون شوي میکانیزم لاندې د هېواد په کلیوالو سیمو کې وړاندې کېږي.

د یادونې وړ ده، چې ۱۷۳۹۳ HF او ۴۳۹ FHF هم تاسیس شوي؛ ترڅو لومړنیو روغتیایي خدمتونو او په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې دمیندو او نویو زیږېدلو ماشومانو برخې روغتیایي خدماتو ته لاسرسي زیات شي.

کابل کې د لومړۍ درجې او تخصصي روغتونونو خدمات د ۲۹ فعال ملي روغتونونو له لارې وړاندې کېږي. یاد روغتونونه د لوړې کچې تخصصي کلینیکي خدمتونه لکه جدي پاملرنې، همودیالیز، رواني روغتیا او انکولوژۍ برخو کې خدمات وړاندې کوي. سربېره پر دې په تېرو دوو لسیزو کې د خصوصي سکتور د خدمتونو وړاندې کول هم د پام وړ زیات شوي، چې ډېری یې د هېواد په لویو ښارونو کې موقعیت لري. دا روغتونونه د ځینو ځانګړو خدماتو ترڅنګ نور اړین طبي خدمات هم وړاندې کوي لکه د زړه جراحي، د جوړونو یا مفاصلو بدلول او د لاپراسکوپي جراحي.

د پورته ذکر شویو پرمختګونو سربېره، د نویو زیږېدونکو او له پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومانو د مړینې کچه کې هم د پام وړ کموالي راغلی . افغانستان یو غرني هېواد دی چې پېچلې سړکونه او د نفوسو ډېر کم شمېر لري. فزیکي لاسرسي هم یوه ستونزه ده څکه چې له ۴۰ سلنو څخه زیات نفوس په داسې سیمو کې ژوند کوي چې له نږدې روغتیایي مرکزونو څخه یو ساعت لرې وي. دا کیدای شي د واکسیناسیون ټیټ پوښښ د DPT۳ کم پوښښاو د زېږون پر مهال روغتیایي خدمتونو ته د خلکو کم لاسرسي څرګند کړي. سربېره پردې، د روغتیایي پاملرنې په لټه کې د کورنیو له توان څخه د پورته لوړې کچې لګښتونه ) د یو شخص ۴۱ ډالر( دا هم په شدې معنی ده چې کورنۍ په عمومي روغتیایي مرکزونو کې د اړتیا وړ خدماتو ته لاسرسي نه لري.

افغانستان په سیمه کې د نورو هېوادونو په پرتله ټیټ معیارونه لري، یعنې په ټول هېواد کې په موجوده روغتونونو کې (۱۲۱۴۲) فعال بسترونه لري، چې د نفوس پر حساب په هرو ۱,۰۰۰ کسانو ۰,۴ بسترونه کېږي، په داسې حال کې چې د روغتیا نړیوال سازمان معیار په هرو ۱,۰۰۰ کسانو کې یو بستر دی.

**د GH پېژندنه:**

عامه روغتونونه یا GH لاندې برخې لري او د هغو ولایتونو په مرکزونو کې پلي کېږي چې د (DH) ولسوالۍ د کچې روغتونونه نه لري، دمګرۍ په ۳۴ ولایتونو کې له ۴۰۰ څخه زیاتې ولسوالۍ شته او په ۹۲ ولسوالیو کې د ولسوالۍ روغتونونه په معیاري توګه ترمیم شوي او روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي، پاتې ولسوالۍ د ولسوالۍ په کچه د ترمیم یا روغتون وداني نه لري، چې په دې لړ کې د عامې روغتیا وزارت د خپل زیربنایي پرمختیایي پالان له مخې د ولسوالیو په کچه د باکیفیته او معیاري روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د (GH عمومي روغتونونو) د جوړولو پلان لري.

| SN | Service | No. of Beds |
|---|---|---|
| 1 | General surgery (Emergency and selective general surgery Orthopedics and traumatologyl | 6 |
| 2 | General Medicine Adult | 6 |
| 3 | Pediatric and neonatal | 10 |
| 4 | Gynecology & Obstetrics | 4 |
| 5 | Emergency | 4 |
| Total Beds 30 | | 30 |



# د ولسوالۍ په کچه

## د عمومي روغتون جوړولو بنسټيزې موخې!

د عمومي روغتونونو د جوړولو اصلي موخه په افغانستان کې د روغتونونو عمومي خدماتو ته د لاسرسي او د ناروغانو د مړينې کچې را ټيټول دي.

ځانګړې موخې يې عبارت دي له:

١ - د هېواد ٣١٨ ولسواليو په کچه د عمومي روغتيايي خدماتو پراختيا.

٢ - د روغتيايي خدماتو پراختيا، د متخصصينو شتون او درمل جوړول چې د هېواد ټول وګړي ورته لاسرسي ولري د بېلګې په توګه طبي تجهيزات، درمل، مصرفي توکي اوداسې نور.

٣ - خلکو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو او ستونزو ته د رسېدنې، تشخيص، غوره درملنې،IPD او OPD خدماتو په موخه د عمومي روغتونونو د کارکوونکو ظرفيت لوړول.

د غوښتنې وړ پايلې:

١- د اړتيا وړ خدماتو د وړاندې کولو لپاره د معياري پلان سره سم د هېواد په ٣١٨ ولسواليو کې د نوي عمومي روغتونونو جوړول.

٢ - د عمومي روغتونونو په جوړېدو سره به د ترويجي او درمليزو خدماتو په برخه کې د ټولنې لاسرسی زيات شي.

٣ - د باکيفيته خدماتو د وړاندې کولو په موخه به وړ او متخصص اشخاص ګمارل کېږي.

٤ - افغان متخصصين به د اړتيا سره سم په اړينو برخو کې روزنه او زده کړې ترلاسه کړي.

٥ - روغتونونه به په اړينو توکو، طبي وسايلو او درملو سمبال شي.

٦ - له نورو لارو څخه د اړتيا وړ روغتيايي خدماتو ته د خلکو لاسرسي لکه، له ډاکترانو سره په آنلاين توګه مشوره، له لرې لارو څخه د راديولوژي خدمات، له لارې څخه او رژانس، سربېره پر دې آنلاين زده کړې، حرفوي کارونه او ورته نور.

٧ - د رجعت ورکولو سيستم به د اضافي فشار له لرې کولو سره په اوسنيو ولايتي او مرکزي روغتونونو کې د ښه کېدو لور ته ولاړ شي.

٨ - د روغتونونو معيارونه به په عمومي روغتونونو کې د روغتيايي خدماتو د کيفيت په موخه نوي روغتونونو ته واستول شي.

٩ - ولايتونو، مرکز کابل او ياګاونډيو هېوادونو ته د نه سفر کولو په پايله کې به د کورنيو غير ضروري لګښتونه راټيټ او روغتيايي خدمتونه به ورته په عمومي روغتونونو کې وړاندې کېږي.

١٠ - په دولتي روغتونونو به د خلکو باور زيات شي.

## د GH جوړولو تګلاره ( ستراتیژي )

### د ولسوالیو په کچه د عمومي یا جنرل روغتونونو جوړول:

د میندو او ماشومانو د مړینې او د ټولنې د زیانمنو خلکو د مړینې کموالي په موخه د هېواد په څه باندې ۳۱۸ ولسوالیو کې د دولتي یا جنرل روغتونونو جوړول او د روغتیایي پراختیا له لارې د روغتیایي خدمتونو د کیفیت لوړول.

د ولسوالیو په کچه د روغتیایي مرکزونو شته حالت چې په عمومي روغتونونو بدلېدو ته اړتیا لري،لومړني معلومات ښايي چې د هېواد د ( ۳۰۰ ) ولسوالیو له ډلې په (۵۵) ولسوالیو کې(+ CHC)شتون لري، چې د لومړنیو روغتیایي خدمتونو سربېره د یو جراح، یو انستیزي لوګ او د( OT) نرس په لرلو سره بېړنیو پېښو ته رسېدنه کوي او په پاتې (۲۵۲) ولسوالۍ د لومړنیو خدمتونو او یو امبولانس په درلودلو سره بېړني ناروغان نږدې روغتون ته چې له ۱۰ تر ۵۰ کیلو مترو اندازه په بر کې نیسي لېږدوي.

### لید لوري:

د هېواد ټول اوسېدونکي په ځانګړې توګه روغتیا ته رسیدلي او د افغانستان د سولې، ثبات او دوامداره پرمختګ په تامین کې مهم رول لوبوي.

په نوي عصري عمومي روغتونونو( GH )کې د مسلکي کسانو ګمارل په روغتیایي پراختیا او د غیر ساري ناروغیو پاملرنې او درملنې په ګډون د روغتون په خدماتو چمتو کولو کې اړین رول لوبوي.

له بده مرغه په تېرو کلونو کې د افغانستان ولسوالیو په کچه روغتونونه د کم شمېر وګړو پر اساس جوړ شوي، شته روغتیايي مراکز په پوره اندازه عصري طبي وسایل او عملیاتي بودیجه نه لري چې د ولسوالیو خلکو ته باکیفیته معیاري خدمات وړاندې کړي.

د ولایتونو په ولسوالیو کې د کاري ځای، باثباته مالي سرچینو، تخنیکي او اداري کارکوونکو نشتوالي، د ځینو روغتیایي خدمتونو او مناسبو تشخیصیه وسایلو نشتوالي په ولسوالیو کې د ناروغانو د مدیریت،تشخیص او درملنې برخو کې د پام وړ بې کیفیتۍ لامل شوي، دا څرګندوي ترڅو د ولسوالیو په کچه عمومي روغتونونو GH جوړ شي.

د یادونې وړ ده چې د هېواد په ولایتونو کې د هغو مجهزو او معیاري روغتونونو نشتوالي، چې د ولسوالۍ ټولې اړتیاوې پوره کړي، د دې لامل شوي چې ډېري خلک په لوړو لګښتونو او د غرنیو لارو په تګ راتګ سره د ولایتونو مرکز ته ولاړ شي، چې دا په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کورنیو پر اقتصاد او په ټوله کې د هېواد په ملي اقتصاد بده اغېزه کوي، چې له همدې امله د عمومي یا جنرل روغتونونو جوړول اړین دي.

### اداري جوړښت:

په عمومي یا جنرل روغتونونو کې د خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د روغتیايي پرسونل شمېر د ( CHC او ( +CHC)مراکزو د اوسني حالت پورې اړه لري، یا هم دا چې عمومي روغتونونه په بشپړه توګه نوي دي، نو د کارکوونکو معاشات به د ( NTA)یا پراختیایي مقیاس پر اساس د ( Hardship) له مخې یوائې طبي کارکوونکو ته ورکول کېږي.

متخصصینو ډاکټرانو، هغه ښځینه روغتیايي کارکوونکو ته چې د هېواد په کلیو کې د خدماتو په موخه هڅول کېږي او هغه روغتیايي کارکوونکو ته چې د ایکس شعاع (X-ray)برخې کې کار کوي یو اندازه امتیاز په نظر کې نیول کېږي.







## خوست ولایتي روغتون ته د طبي وسایل لیږد!

عامې روغتیا وزارت له لوري د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت خوست ولایتي روغتون ته طبي وسایل ورکړل شول.

دغه وسایل د خوست ولایتي روغتون ته د زړه ناروغیو د ښې درملنې په برخه کې ورکړل شول، چې په کې د دوه پایو (ECHO)ایکوکارډیوگرافۍ ماشینونو سربېره د اکسیجن رسولو دستګاوې، د تلویزیوني معایناتو ماشینونه، ویلچرونه او نور شامل دي.



## ننګرهار کې د زون په سطحه د یو مجهر لابراتوار جوړېدل!

د عامې روغتیا وزارت له لوري په ننګرهار ولایت کې د ۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو پرمختللي ریفرینس لابراتوار د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف، د روغتیا نړیوال سازمان او د روغتیا په برخه کې د تطبیق کوونکو مؤسسو استازو، د ننګرهار د والي مرستیال مولوي سعید احمد بنوري او د دغه ولایت د یو شمېر نورو ادارو مسؤلینو شتون درلود.

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د یاد لابراتوار جوړېدل د ختیځ زون په ځانګړي توګه د ننګرهار ولایت اوسېدونکو ته د روغتیا په برخه کې یوه ستره لاسته راوړنه یاده کړه او ویې ویل: د هېواد په کچه دا شپږم ستر لابراتوار دي چې جوړېږي او د ۲۴ ځانګو لرلو سربېره به په ټولو اړینو لابراتواري تجهیزاتو سمبال او په بېلا بېلو تشخیصیه برخو کې به ناروغانو ته خدمات ترسره کوي.

د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال همدا راز زیاته کړه، د یاد مرکز د جوړېدو اساسي موخه د ننګرهار، کونړ، لغمان او نورستان ولایتونو د ناروغانو پر وخت تشخیص، د روغتیایي سکتور ظرفیت لوړول او د بېلا بېلو ناروغیو د تشخیص په برخه کې په بهرنیو هېوادونو د هېواد د وګړو تکیه را کمول دي.

# د روغتيايي خدمتونو ښه والي په موخه کورنيو او نړيوالو شريکانو سره د عامې روغتيا وزيرناستې!



۱ ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ميدان وردګ له والي، ښاغلي قاري بختيار معاذ سره په ياد ولايت کې د روغتيايي ستونزو د حل په موخه ليدنه ترسره کړه.

۲ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ازموينو ملي ادارې مشر شيخ عبدالباقي حقاني سره وکتل.

۳ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتيايي خدمتونو ښه والي او ستونزو له منځه وړلو په موخه د عامې روغتيا وزارت مرکزي رييسانو سره ناسته ترسره کړه.

۴ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د عامې روغتيا وزارت د اکمال تخصص عمومي رياست له مسؤلينو سره د تخصصي برنامو په معياري کولو او په يادو برنامو کې د شته ستونزو د حل اړوند ناسته ترسره کړه.

۵ــ د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د کابل د تخصصي او ثالثي روغتونو له يو شميرتړينر متخصصينو سره د دوی د ستونزو حل په موخه ليدنه تر سره کړه.

۶ــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د اختر په ورځو کې د روغتيايي مراکزو څخه د ليدنې پر مهال اندراګاندي د ماشومانو د درملنې روغتون څخه له نږدې ليدنه ترسره کړه.

۷ــــ د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د چين له سفير، ژاو شينګ سره د افغان روغتيايي پرسونل د ظرفيت لوړونې، د هغه روغتيايي مراکزو هر اړخيز ملاتړ چې د چين هيواد له لوري جوړ شوي ، په روغتيايي برخه کې د پانګې اچونې او د ساري ناروغيو د کنټرول او مخنيوي په موخه ليدنه ترسره کړه.

۸ ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د روغتيا نړيوال سازمان حوزوي مشرې اغلې حنان البلخي او د روغتيا نړيوال سازمان د افغانستان مسؤول ډاکټر جمشيد تنولي سره د روغتيا برخه کې د همکارۍ ، روغتيايي خدماتو پر معياري کولو او ساري ناروغيو سره د مبارزې اړوند انلاين مجلس تر سره کړ.

۹ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د جاپان له سفيرکوروميا تاکايوشي سره په روغتيايي برخه کې د جاپان هيواد د ونډې او د دواړو هيوادونو ترمنځ په روغتيايي برخه کې د لا دوامداره همکاريو په موخهليدنه ترسره کړه.



۱۰ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د (UNODC)اداري له استازي، اغلې انوبا سوود سره په افغانستان کې د نشه يي توکو د مخنيوي، د روږدو کسانو د درملنې په برخه کې د لا همغږۍ، له درملنې وروسته روږدو ته د فني او حرفوي زده کړو او نورو اسانتياوو برابرېدو په موخه ليدنه ترسره کړه .

۱۱ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د اروپايي اتحاديې شارژدافيرې رافايلا يوديچه او مل پلاوي سره د سرطاني ناروغانو د درملنې، د دې ناروغۍ اړوند مراکزو د تمويل او تجهيز، د معتادينو د درملنې، په ولسواليو کې د ولسوالۍ د کچې روغتونو جوړولو او سوء تغذيې ماشومانو ته د روغتيايي خدماتو اړوند ليدنه او خبرې تر سره کړې.

۱۲ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د بې پولې ډاکټرانو ادارې له استازي ښاغلي فيليپ او ورسره مل پلاوي سره د دې ادارې د روغتيايي خدماتو د پراختيا او د کابل په صحت طفل روغتون کې د سوء تغذيې ماشومانو لپاره د خدماتو د پيل اړوند مجلس تر سره کړ.

۱۳ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د نيمروز له والي، شيخ محمد قاسم خالد سره د دې ولايت لرې پرتو سيمو اوسېدونکو ته د روغتيايي خدماتو د رسولو او د روغتيا په برخه کې د موجوده ستونزو د حل په موخه وليدل

۱۴ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د افغانستان لپاره د يونيسيف سازمان له مشر ډاکټر تاج الدين اويلا او مل پلاوي سره د روغتيايي سيستم د پرمختګ او په روغتيايي خدماتو کې د شته ستونزو د حل په موخه ليدنه تر سره کړه.

۱۵ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د جمهوريت روغتون د ريفورم په برخه کې د چارو ترسره کولو په موخه د رياست الوزرا اداري مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ دګمارل شوي پلاوي او تخصصي کمېټې له غړو سره ناسته ترسره کړه.

۱۶ــــ د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په افغانستان کې د خوړو نړيوال سازمان له مشرې اغلې شاويلي سره د سوء تغذيې ماشومانو او ميندو لپاره د روغتيايي خدماتو پر پراختيا او د تغذيې اړوند ورته نورو حمايوي پروژو د تطبيق او څرنګوالي اړوند ليدنه تر سره کړه.

۱۷ــــ د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د ازربايجان هيواد له سفير الهام محمدوف سره د روغتيا په برخه کې په ګډه همکارۍ، ، د درملو د صنعت برخه کې د تجاربو شريکول ، د افغان روغتيايي پرسونل د ظرفيت لوړونې اوګڼو نورو روغتيايي موضوعاتو اړوند ليدنه او خبرې تر سره کړې.

۱۸ــــ د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتيا نړيوال سازمان د افغانستان لپاره د نوي مشر ايډوين سينيزا سلاوېر سره د روغتيايي سيستم پر پراختيا ، لرې پرتو سيمو ته د رسيدنې ، د ساري ناروغيو سره د مبارزې ، د پوليو لابراتوار پر فعاليت او د روغتيايي سيستم لپاره د مؤثرې پاليسۍ جوړولو پر څرنګوالي او همغږۍ خبرې اترې تر سره کړې.

# د روغتیايي خدماتونو ښه والي په موخه کورنیو او نړیوالو شریکانو سره د عامې روغتیا وزیر ناستې!




۱۹ــــ د عامې روغتیا وزیر ، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي د روغتیا نړیوال سازمان د پولیو پروګرام مشرانو سره په خپل کار ځای کې چې د یاد سازمان د ختیځې حوزې لپاره د پولیو له منځه وړلو پروګرام رئیس ډاکټر حامد جعفري ګډون کړي و افغانستان کې د پولیو له منځه وړلو په هځو، د پولیو لابراتوار په بشپړ فعالولو او د پولیو پروګرام د ننګونو په تړاو وکتل.

۲۰ــ د عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د غزني ، غور او پکتیا ولایت والیانو او روغتیايي مسؤولینو سره د دې ولایتونو د روغتیايي خدماتو پر وړاندې کولو ، ولسونو ته د روغتیا په برخه کې د اسانتیاوو را منځته کولو او شته امکاناتو څخه د ښې استفادې په موخه ناسته ترسره کړه

۲۱ــــ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د کندهار او نورستان عامې روغتیا ریيسانو سره د روغتیايي خدمتونو پر څرنګوالي، د شته ستونزو پر حل او د روغتیايي خدمتونو په لا ښې رسیدنې بحث ترسره کړ.

۲۲ــــ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د کندهار او نورستان د عامې روغتیا رئیسانو سره په خپل کاري دفتر کې د روغتیايي خدمتونو پر څرنګوالي، د شته ستونزو پر حل او د روغتیايي خدمتونو په لا ښې رسیدنې ناسته ترسره کړه.

۲۳ــــ د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلالي په خپل کاري دفتر کې د جوړېدونکو سرطاني ناروغیو مرکزونو په هکله د وزارتونو له استازو او اړوند مسؤلینو سره ناسته ترسره کړه.

۲۴ــــ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د (UNDP) سازمان له مشر ښاغلي سټیفن روډریک او مل پلاوي سره د روغتیايي مرکزونو لپاره د سولري برېښنا سیستم جوړولو، ملاریا، توبرکلوز او ایچ آی وي (ایډز) ناروغیو د مخنیوي او روغتیايي خدماتو ښه والي په موخه سره وکتل.

۲۵ــــ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د (UNFPA) سازمان له مشر، ښاغلي کوابینا اسانتي او مل پلاوي سره په سپینو سیمو کې د روغتیايي ځالو جوړېدو، د جوړو شویو روغتیايي ځالو د خدمتونو پر پراخوالي او د مور او ماشوم لپاره د ځانګړو روغتیايي خدماتو په موخه لیدنه ترسره کړه.

۲۶ــــ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مرکز کابل کې د تخصصي او ثالثي روغتونونو له مسؤلینو سره ناسته کې د روغتیا په برخه کې د شته امکاناتو څخه په اغېزمنه توګه ګټې اخیستلو، د روغتیايي کارکوونکو د معاشاتو او په روغتیايي سکتور کې د مسلکي کسانو پرګمارنې بحث او خبرې ترسره کړې.

# د روغتیایي خدماتونو ښه والي په موخه کورنیو او نړیوالو شریکانو سره د عامې روغتیا وزیر ناستې!



دوام..

۲۷ــــ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د روغتیا نړیوال سازمان، یونیسیف،(UNDP)،ګاوي اداري،(USAID) او د یو شمېر نورو نړیوالو ادارو له استازو سره روغتیایي سیستم د پیاوړتیا، لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي مرکزونو جوړېدو، په روغتیایي برخو کې د مرستو او دومدارې همکارۍ په موخه انلاین لیدنه ترسره کړه.

۲۸ــــ د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د برطانیې له شارژدافیر رابرټ ډیکسون سره د روغتیایي سیستم د مرستو، د روږدو ناروغانو د درملنې، د مور او ماشوم روغتیا په برخه کې د همکارۍ او د روغتیا په برخه کې د نړیوالو مرستو د جلب په موخه ناسته ترسره کړه.

۲۹ــــ د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د افغانستان لپاره د یونیسیف سازمان مشر ښاغلي ډاکټر تاج الدین اویلا او مل پلاوي سره د روغتیایي سیستم پر وضعیت او د وړاندې کیدونکو خدماتو پر څرنګوالي لیدنه تر سره کړه.

۳۰ــــ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ساري ناروغیو په ځانګړي توګه د بیزو تڼاکې (مانکي پاکس) ناروغۍ د کنټرول او مخنیوي په موخه د وزارت د مالي او اداري چارو، روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو او روغتیایي پراختیا او پالیسۍ له مرستیالانو او مرکزي رئیسانو سره ناسته ترسره کړه.

۳۱ــــ عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د یو شمیر نړیوالو مؤسسو له مسؤولینو او استازو سره د روغتیایي خدماتو پر کیفیت ، په سپینو سیمو کې د روغتیایي مراکزو پر جوړولو ، د موازي پروژو پر اوږد مهاله مؤثرو پروژو مدغم کیدنې ، او د روغتیایي خدماتو اړوند له وزارت سره پر دوامداره همغږۍ مجلس تر سره کړ.

۳۲ــــ د عامې روغتیا وزیر ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي د کار او ټولنیزو چارو وزارت د ټولنیزو چارو مرستیال الحاج شیخ عبدالبر چې د روزنتونو رئیس یې هم ملتیا کوله په روزنتونونو کې د کوچنیانو لپاره د روغتیایي خدمتونو برابرېدو او لا پراخېدو په تړاو خبرې تر سره کړې.

۳۳ــــ د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خصوصي سکتور کې د وړاندې کیدونکو روغتیایي خدماتو څخه د نظارت ، روغتیایي لګښتونو د کنټرول، او نورو اړوند موضوعاتو په موخه د عامې روغتیا وزارت له مرستیالانو او رئیسانو سره ناسته تر سره کړه.



## دوام..

۳۴ــــ د عامې روغتيا وزير ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د بې پولې ډاکټرانو بنسټ له مسؤولينو سره د بې پولې ډاکټرانو اړوند روغتيايي مرکزونو او روغتيايي خدمتونو ښه والي په موخه ليدنه ترسره کړه.

۳۵ــــ د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د مالي منابعو پر مديريت ، د معاشاتو پر اعتدال او د مسلکي پرسونل لپاره د معاشاتو ښه والي په موخه د عامې روغتيا وزارت له مرستيالانو او رئيسانو سره ناسته تر سره کړه.

۳۶ــــ د عامې روغتيا وزير ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د بيل ګيټس بنسټ له استازو سره د روغتيايي سکتور پر مالي ملاتړ ، د ساري ناروغيو پر مخنيوي ، د پوليو ناروغۍ پر محوې، په لرې پرتو سيمو کې د روغتيايي مراکزو پر جوړولو او د پوليو واکسين پر ښه تطبيق انلاين ناسته ترسره کړه.

۳۷ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي له پاکستان هېواد څخه د CPSP اداري له راغلي پلاوي سره چې د دې اداري رئيس، پروفيسر ډاکټر شعيب شفيع يې مشري کوله د تخصصي برنامو په برخه کې د تجاربو په شريکولو، د روغتيايي پرسونل په ظرفيت لوړونې، د تخصصي برنامو د لا ډېر معياري کولو او پر لنډ مهاله زده کړه ييزو برنامو په موخه ناسته ترسره کړه.

۳۸ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي له ايران هېواد څخه د درمل جوړونې خصوصي سکتورڅخه د راغلي پلاوي سره وکتل.

۳۹ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د قطر هېواد سفارت له استازو، ښاغلي يوسف عبدالله المهندي او ښاغلي مردف القاشوطي سره کندهار ولايت کې د ميرويس حوزوي روغتون د پراختيا، په عينو مېنه کې د ۴۰۰ بستريز روغتون د جوړېدو او د افغانستان روغتيايي سکتور سره د قطر هېواد د مرستې او همکارۍ په تړاو ليدنه ترسره کړه.

۴۰ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د جاپان هېواد له سفير، ښاغلي کوروميا تاکايوشي سره د جاپان هېواد د مرستې په ځانګړې ډول د روږدو ناروغانو د درملنې، واکسين، ساري ناروغيو د کنټرول او د دواړو هېوادونو ترمنځ په روغتيايي برخه کې د لا دوامداره همکاريو په تړاو وکتل.

۴۱ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د نړېوال بانک مسئولينو سره ناسته ترسره کړه.

۴۲ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د اغا خان بنسټ مشر ښاغلي، نجم الدين سره ناسته ترسره کړه.

۴۳ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د (MSF) اداري مشر سره ناسته ترسره کړه.

۴۴ــــ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د انټرساس موسسې مسئولينو سره ناسته ترسره کړه.

همدا راز يو شمېر نورو ادارو سره د روغتيايي خدماتو ښه والي په موخه ناستې ترسره شوي.

# انتاني او افغان جاپان روغتون کې

## د تشخيصيه خدماتو لپاره د نويو مجهزو ودانيزو چارو پيل!



د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي له لوري د انتاني او افغان جاپان ساري ناروغيو د درملنې ملي او تخصصي روغتونونو کې د نږدې (۱۰۰) سل میلیونه افغانیو په ارزښت د تشخيصيه خدماتو لپاره د نويو مجهزو ودانيو د جوړېدو بنسټ ډبره کېښودل شوه. يادې ودانۍ چې دوه مجهز سي تي سکين ماشينونه ، ډاپلر ايکو او په ځينې نورو تشخيصيه وسايلو به سمبال شي د دريو مياشتو په موده کې به يې چارې بشپړې شي.

د عامې روغتيا وزير ښاغلي،مولوي نور جلال جلالي د يادو ودانيو چې د جايکا او روغتيا نړيوال سازمان په همکارۍ جوړېږي خوښي ښرگنده کړه. او دا يې تشخيصيه برخه کې د پرمختگونو د پيل يو مهم پړاو وباله.

د عامې روغتيا وزير ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي د خپلو خبرو پردوام زياته کړه "د روغتيايي سيستم ښه والي په موخه يې د يوې ستراتيژۍ او ملي پاليسۍ په جوړولو کار پيل کړي. چې په پلي کېدوسره به يې مرکزي ثالثي روغتونو کې دمعياري خدماتو وړاندې کولو سربېره په ولايتي روغتونونو او لرې پرتو سيمو کې روغتيايي خدماتو ته په اسانۍ سره د خلکو لاس رسي زيات شي.

د يادونې وړ ده چې په دغه مراسمو کې د روغتيا وزارت يو شمېر مرکزي رييسانو، روغتياپالانو او د روغتيا وزارت کاري شريکانو گډون کړي و چې د يادو تعميراتي چارو پر مؤثريت او مثمريت يې ويناوې تر سره کړې.

# انتانات حاد تنفسي يا
# Acute Respiratory Infections

انتانات حاد تنفسي سبب عمده مرگ و مير اطفال كمتر از پنج سال را تشكيل ميدهد قرار احصائيه هاييكه صورت گرفته در كشور هاي رو به انكشاف سالانه بيش از ۱۲ ميليون طفل از سبب امراض حاد تنفسي فوت ميشوند . هر طفل در ظرف يک سالچندين حمله انتان حاد تنفسي را سپري ميكند . اين انتانات مخصوصاً نزد اطفال كوچك ، مسنين و اشخاص با معافيت پايين ، خطرناك ميباشد . وقوع مرض بيشتر در فصل سرما بمشاهده ميرسد . معمولاً كوتاه مدت بوده كمتر از سي روز را در بر ميگيرد . بعضي از ين ها شامل امراض خفيف ميباشد كه بدون تداوي بطور خود بخودي شفا ياب ميشود در حاليكه انواع ديگر مرض سبب اختلال تنفس نورمل شده و ايجاب مراقبت داخل بستر را ميكند.

## انواع انتانات حاد تنفسي :

انتانات حاد تنفسي شامل انتانات طرق علوي تنفسي و انتانات طرق سفلي تنفسي ميباشد چنانچه انتانات طرق علوي از سوراخ هاي بيني تا حبول صوتي حنجره ادامه دارد همچنان سينوز هاي اطراف بيني و گوش متوسط نيز مربوط اين بخش ميباشد اما طرق سفلي تنفسي شامل قصبه ، برانش ، برانشيول ها و اسناخ ميشود .

## عوامل خطر :

باوجوديكه امراض موسمي نزد همه كسان معمول ميباشد اما بعضي عوامل خطر زمينه انتان را بيشتر مساعد ميسازد كه شامل اقتصاد پايين ، خانواده هاي پر ازدحام ، عدم مراعات حفظ الصحه ، سن كمتر از پنج سال يا افراد مسن ، اطفال كه قبل از معياد به دنيا آمده باشند ، امراض متممه قلبي و ريوي ، آلودگي آب و هوا ، نوشيدن سگرت ، اطفاليكه شير مادر نگرفته باشند ، عدم تطبيق واكسين ها ( چون در سير بعضي امراض ساري انتانات طرق تنفسي معمول ميباشد) ، سؤ تغذيه و افراد با معافيت پايين بيشتر مصاب ميگردند .

## عوامل سببي :

اكثر واقعات انتانات حاد تنفسي را ويروس ها مثل رينووايرس ، ادينو وايرس ، اينتيرو وايرس ، پارا انفلوينزا وايرس ، ريسپايراتوري سينسيشل وايرستشكيل ميدهد اما فيصدي كم اين واقعات از باعث باكتريا ها نيز بميان ميايد . مخصوصاً در كشور رو به انكشاف مطالعات نشان داده كه ۵۰-۶۰ % عامل انتانات حاد طرق سفلي تنفسي را باكتريا ها تشكيل ميدهد كه شامل ستريپتوكوك نمونيا ، هيموفيلس انفلوينزا و ستافيلوكوك ها ميباشد . پس تداوي قضاوتمندانه اطفال مصاب سينه بغل با ضد مكروب از مرگ و مير آنها جلوگيري ميكند .

## اشكال كلينكي انتانات حاد تنفسي :

شامل نزله يا ريزش (common cold) ، فرنجيت (pharyngitis)، گلو دردي (tonsillopharyngitis) ، خراسك (epiglotitis)، التهاب گوش متوسط (otitis media)، سينوزيت (sinusitis) ، لرنجيت (laryngitis)، كه مربوط طرق علوي تنفسي ميشود و اكثراً در خانه تداوي ميشود . و امراض طرق سفلي تنفسي شامل برانشيت (bronchitis)، سينه بغل (pneumonia) ، و برانشيوليت (bronchiolit)ميشود چنانچه واقعات شديد بايد داخل شفاخانه تداوي شوند .

## اعراض و علايم كلينكي :

بصورت عموم اعراض و علايم كلينكي طرق علوي از طرق سفلي متفاوت ميباشد . اما اعراض معمول شامل احتقان انفي يا ريوي ، ريزش بيني ، سرفه ، عطسه ، سردردي ،احساس ناراحتي در وجه ، گلودردي ، جان دردي ، احساس خستگي، و اعراض و علايم خطر كه معمولاً در انتانات وخيم طرق سفلي تنفسي بمشاهده ميرسد چون تب بلند ، دفعات بلند تنفس ، عسرت تنفس ، درد صدر ، پرش مناخر انفي ، فرورفتگي عضلات بين ضلعي و يا تحت ضلعي ، عسرت تنفسي ، موجوديت آواز هاي اضافي تنفسي ، خواب آلوده شدن ، ضياع شعور ، عدم توانايي خوردن و نوشيدن و سيانوزيس ميباشد .

## چطور تشخيص و تداوي صورت ميگيرد :

اكثراً تشخيص مرض از نظر كلينكي اجرا ميگرد . در اثناي معاينه گلو و گوش مريض به دقت معاينه شود بيشتر به تنفس مريض تمركز صورت بگيرد صدر مريض اصغا گردد . در صورت ضرورت هرگاه انتانات طرق سفلي مشكوك بود معاينات لازمه چون اكسري و يا سي تي سكن توصيه ميگردد بعضاً نمونه بلغم براي دريافت نوع مكروب اخذ ميگردد . اشباع اوكسيجن خون اندازه شود .

مطابق رهنمود سازمان صحي جهان در صورتيكه يک طفل سرفه و نزله دارد اما دفعات تنفس مطابق سن اش بلند نيست و شاخصه هاي سينه بغل شديد نزد اش موجود نيست پس طفل سينه بغل نيست و در خانه تداوي خانگي مثل نوشيدني هاي گرمو يا شير دهي براي سرفه و پاراستامول براي تب توصيه ميگردد . هرگاه طفل برعلاوه سرفه ، تنفس سريع ( نزد اطفال ۲-۱۲ ماه مساوي يا بيشتر از ۵۰ تنفس في دقيقه ، و نزد اطفال ۱-۵ سال مساوي يا بيشتر از ۴۰ تنفس في دقيقه ) همراه يا بدون فرورفتگي تحت ضلعي و اشباع نورمل اوكسيجن داشته باشد سينه بغل گفته ميشود و در خانه با شربت اموكسيسيلين فمي تداوي ميشود اما در صورتيكه برعلاوه سرفه و تنفس سريع ، نزد طفل فرورفتگي تحت ضلعي ، عدم توانايي مكيدن و يا خوردن ، بي حالي ، ضايع شعور ، عسرت شديد تنفسي ، و سيانوز مركزي داشته باشد پس سينه بغل شديد تشخيص ميشود و در شرايط داخل بستر با ادويه ضد مكروب زرقي مثل پينسيلين يا امپيسلين همراه با جينتامايسين تداوي صورت ميگيرد . سازمان صحي جهان زينك را نيز در تداوي سينه بغل توصيه كرده است .

نزد اطفال مصاب سينه بغل در خط دوم تداوي زرق وريدي سيفترياكسون نيز شامل ميباشد. در ضمن استراحت زمينه بهبودي معافيت را مساعد ميسازد .

## چطور از انتانات حاد تنفسي جلوگيري شود :

بصورت عموم بهترين راه جلوگيري از تماس با افراد مصاب ميباشد . برعلاوه نوشيدن كافي مايعات ، جلوگيري از رفتن به جا هاي مزدحم ، مراعات نمودن حفظ الصحه شخصي و منازل ، تهويه مناسب منازل، خوداري نمودن از مواجهه شدن دود و آلودگي هوا ، شيردهي اطفال كمتر از دو سال ، پوشيدن دهن و بيني در هنگام سرفه و عطسه ، تطبيق واكسين هاي روتين و واكسين انفلوينزا نزد اطفال ، جلوگيري نمودن از سگرت .

## د عامې روغتیا وزارت له لوري د نشه يي توکو پر وړاندې د پوهاوي غونډه ترسره شوه.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزارت له لوري د نشه يي توکو پر وړاندې د پوهاوي غونډه ترسره شوه. په يادو مراسمو کې چې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني ، د کورنيو او بهرنيو اداراتو استازو، د عامې روغتيا وزارت رئيسانو او د کورنيو چارو وزارت د نشه يي توکو سره د مبارزې معينيت استازو شتون درلود چې په ګډه يې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې او همغږۍ تعهد څرګند کړ.

د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي حقاني د معتادينو د درملنې په خاطر د هيواد په بيلا بيلو برخو کې د ځانګړو شويو ٦١ فعالو روغتيايي مراکزو اړوند معلومات وړاندې کړل چې په تيرو دوه کالو کې د نږدې ٥٥ زره تنه معتادينو درملنه په يادو روغتونو کې تر سره شوې ده.

په يادو درملنه شويو اشخاصو کې کوچنيان ، نوي ځوانان لويان او ښځينه شامل دي چې لا هم زرګونه يې تر تداوۍ لاندې دي.ښاغلي مرستيال د معتادينو د درملنې اړوند د نړيوالو اداراتو همکاري اړينه وبلله او په دې اړوند يې د لا همکارۍ لپاره پر نړيوالو ادارتو د همکارۍ غږ وکړ!

هيره دې نه وي چې په هيواد کې د معتادينو د درملنې ملي برنامې په توسط سږ کال نږدې اته سوه زره هيوادوالو ته د نشه يي توکو څخه د ځان ساتنې اړوند معلومات رسول شوي ، په کورونو او روغتونو کې د معتادينو د درملنې برنامې جريان لري او نږدې د ٢٦٠٠ تنه روغتيايي پرسونل يې خدماتو ته ځانګړي شوي دي.

## د عامې روغتيا وزارت له لوري د ژېړي ناروغۍ پر وړاندې د پوهاوي غونډه ترسره شوه.

د افغانستان اسلامي امارات د عامې روغتيا وزارت له لوري د ژېړي (هيپاټيټيس) ناروغۍ پر وړاندې د پوهاوي غونډه (همدا اوس د عمل وخت دی). تر شعار لاندې د یوې ستړې غونډې پرمهال ترسره شوه.

په دغو مراسمو کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د کورنيو او بهرنيو اداراتو استازو، د عامې روغتيا وزارت رئيسانو او د رسنيو استازو ګډون کړی وو.

د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني يادې غونډې ته د وينا پرمهال وويل: په افغانستان کې که څه هم د ژېړي ناروغۍ کچه د نورو هيوادونو په پرتله ټيټه ده؛ خو په خبره يې چې د اټکلونو له مخې په تېره لسېزه کې له سل زرو ډېر کسان په ژېړي (هيپاټيټيس) اخته شوي دي.

هغه زياته کړه په تېر کال په افغانستان کې د دې ناروغۍ (۱۵۰۰۰) شاوخوا پېښې راپور ورکړل شوي دي، چې له دې جملې څخه ( ۱۲۰۰۰ ) د بي هيپاټيټيس ناروغان او (۱۳۰۰) د سي هيپاټيټيس ناروغان ثبت شوي دي.

ښاغلي حقاني دغه راز وويل چې روغتيا وزارت د دې ناروغۍ د مخنيوي لپاره د ژېړي او ايچ آي وي د ملي پروګرام په چوکاټ کې د ژېړي ناروغۍ د مخنيوي، درملنې او کنټرول په برخه کې په نشتو امکاناتو خپل ولس ته خدمات کوي، چې اوس مهال په ١٤ ولايتونو کې د دې ناروغۍ د تشخيص او پيژندنې مرکزونه موجود دي او په اتو ولايتونو کې د درملنې خدمتونه تر سره کېږي، چې په نږدې راتلونکي کې به لسو نورو ولايتونو ته د دې ناروغۍ د درملنې خدمتونه ورسول شي.





# کابل امبولانس




## ۱۰۲

د کابل امبولانس

**۲۴**

ساعته

وړیا خدمتونه




## د عامې روغتیا وزارت

## نشراتي آدرسونه!

ویبپاڼه:

Website: https://moph.gov.af/ps

ایکس ( ټویټر ):

X (Twitter): https://x.com/MoPH_afg

یوټیوب:

YouTube Channel: https://www.youtube.com/@mophafg12

واټس آپ:

WhatsApp Channel: https://whatsapp.com/channel/0029VaYIVdICxoAwRCMb3n0X

فیسبوک:

Facebook Page: https://www.facebook.com/profile.php?id=61558743592026

# صحت و زندگی





دور سوم - شماره سوم - جمادی الاول ۱۴۴۶ ه ق